بریا د ټولو هیله

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه
نهم کال، دویمه ګڼه | اپریل - جون | ۲۰۲۳ کال

د افغانستان کرکټ بورډ

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه

درې میاشتنۍ مجله

اپرېل - جون | ۲۰۲۳ کال



مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي: حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ او خوشحال درانی

ډیزاین: احمد ذبیح رامین

AfghanistanCricketBoardOfficial
ACBDomestic
GAOneDayCup
ACBofficials
AcbDomestic
GAOneDayCup
afghanistancricketboard
gaonedaycup
AfghanistanCricketBoardOfficial
www.cricket.af

لیکلړ

1	دویم پړاو زرغون افغانستان جام یو ورځنۍ سیالۍ ترسره شوې	2
2	ابراهیم ځدراڼ د یوه ستر نړیوال ریکارډ په لوري	10
3	اسدالله خان د غوراوي کمېټې د نوي مسوول په توګه په دنده وګومارل شو	12
4	د افغانستان او سریلانکا کرکټ بورډونو مشرتابه پر دوه اړخیزو همکاریو خبرې وکړې	13
5	افغان اتلان له سریلانکا وروسته بنګله دېش کې په سیالیو بوخت دي	14
6	په کرکټ کې اوور ریټ څه ته ویل کېږي او ولې یې له امله لوبغاړي جریمه کېږي؟	18
7	کار بازسازی استدیوم کرکت کابل و میدانهای ولایات جریان دارد	20
8	محمد نبي په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۳۰۰۰ منډې پوره کړې	22
9	د افغانستان کرکټ بورډ یو شمېر روزونکو د روزنې دریمه درجه کورس وکړ	27
10	هند غوره لیګ کې د افغان ستورو په زړه پورې کارکردګۍ	28
11	د روان کال د مجلې لومړۍ ګڼه او د لوستونکو لېوالتیا	30
12	استرالیا د دویم پړاو ټېسټ نړیوالو سیالیو اتلولي خپله کړه	34
13	د کرکټ هغه ریکارډونه چې ماتول یې شاید ډېر وخت ونیسي	40
14	هېواد ساتونکو د رحمت ولي مسرور ایمرجېنګ سیالیو اتلولي خپله کړه	44
15	د افغان کرکټ له ځوان لوبغاړي اظهارالحق نوید سره مرکه	46
16	مس عینک زون د زونونو په کچه د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو اتلولي خپله کړه	48
17	**ICC Cricket World Cup Qualifiers 2023 Underway in Zimbabwe**	53

سر مقاله

افغان کرکټ بورډ د کرکټ اسیا او نړیوال جامونو ته د پوره چمتووالي په موخه د پلان له مخې په غوره ډول روان دی. د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه په همدې موخه چې افغان کرکټ له پخوانۍ انزوا راوباسي، بېلابېلو هېوادونو ته د کرکټ بورډونو له مشرانو سره د لیدو او ناستو په موخه لیده کاته او سفرونه وکړل.

د همدې ناستو او هلو ځلو په پایله کې افغان لوبډلې د سریلانکا پر وړاندې درې یو ورځنۍ سیالۍ ترسره کړې، دغه راز د ټېسټ سیالۍ په موخه بنګله دېش ته ولاړه او راتلونکې جولای میاشتې کې به د یاد هېواد پر وړاندې درې یو ورځنۍ نړیوالې او دوه شل اوریزې سیالۍ هم ترسره کړي چې دغه چاره به د اسیا جام سترو سیالیو لپاره له شک پرته ډېره ګټوره او مفیده وي.

همدارنګه د یادو ناستو په پایله کې افغان کرکټ بورډ وکولی شول چې د سریلانکا دوه لوبغالي هم د افغانستان په نوم شي، ترڅو د کوربه لوبغالو په توګه ترې ګټه پورته شي چې به پکې په نږدې راتلونکي کې افغان لوبډله د نورو هېوادونو د ملي، الف، ایمرجېنګ او نوولس کلنو لوبډلو کوربه توب وکړي.

افغان کرکټ ملي لوبډبه به له اسیا جام او نړیوال جام سیالیو وړاندې راتلونکو میاشتو کې د پاکستان، هندوستان او زمبابوې پر وړاندې لوبې ولري، ترڅو د یادو سترو سیالیو لپاره لا ډېر چمتو او اماده واوسي.

اداره د تل په څېر ژمنه ده چې د افغان اتلانو پر مټ هېوادوالو ته ویاړونه او خوښۍ راوړي چې په همدې موخه یې غوره پلانونه ترسیم او ترتیب او ترڅنګ یو په بل پسې عملي کړي دي.

درنښت

اداره

دويم پړاو زرغون افغانستان جام یو ورځنۍ سيالۍ ترسره شوې

افغانستان کرکټ بورډ د زرغون افغانستان جام دويم پړاو سيالۍ ترسره کړې. په دغو سياليو کې څلورو لوبډلو ګډون درلود چې روان کال د اپرېل مياشتې په ۲۹مه نېټه پيل شوې چې د مې مياشتې تر ۱۷مې نېټې پورې يې په خوست ولايت کې دوام وکړ. په يادو سياليو کې د ۴ څلورو ګډون کوونکو لوبډلو له منځه دوه لوبډلې، پامير ليجينډز او ميوند ساتونکي، د لومړي پړاو د غوره لوبډلو په توګه د يادو سياليو پايلوبې ته لاره موندلې وه چې پايلوبه يې د سخت ورښت له امله بې پايلې پای ته ورسېده او په دې توګه دواړه لوبډلې د دويم پړاو زرغون افغانستان جام سياليو ګډې اتلې اعلان شوې.

د سياليو بڼه، لوبډلې، لوبغاړي او موخه:

دويم پړاو زرغون افغانستان جام سيالۍ هم د لومړي پړاو په څېر په يو ورځنۍ بڼه ترسره شوې چې پکې ټولو ګډون کوونکو لوبډلو په راونډ روبېن پړاو کې د يو بل پر وړاندې دوه-دوه ځلې لوبې ترسره کړې، هرې لوبډلې ټولې ٦ سيالۍ ترسره کړې او د ۱۹ ورځو په ترڅ کې يې ترمنځه ۱۳ لوبې ترسره شوې چې له منځه يې دوه مخکښې لوبډلې، چې د نورو په پرتله يې ښې لوبې ترسره کړې وې او زياتې نمرې يې درلودې، د يادو سياليو پايلوبې ته لاره ومونده چې د مې مياشتې په ۱۷مه نېټه ترسره شوه.

د يادو سياليو په لومړي پړاو کې، چې تېر کال ترسره شو، درې لوبډلو هندوکش سټرايکرز، پامير ليجينډز او ميوند ډيفينډرز، ګډون درلود خو د افغانستان کرکټ بورډ په نوښت او يوه ځانګړي اقدام د يادو سياليو په دويم پړاو کې د جونير چيمپينز په نوم څلورمه لوبډله هم اضافه کړه چې پکې به د هېواد د نولس کلنې کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړي ولوبېدل. د افغانستان کرکټ بورډ دغه لوبډله يادو سياليو ته اضافه کړه ترڅو نولس کلن کم عمره لوبغاړي هم د خپلو ملي لوبغاړو ترڅنګ ولوبېږي او د نولس کلنو کم عمره لوبغاړو د راتلونکو سترو اسيا جام او نړيوال جام سياليو ته چمتووالی ونيسي.

د نولس کلنې کم عمره لوبډلې ترڅنګ په درې نورو ګډون کوونکو لوبډلو کې د ملي لوبډلې ګڼ شمېر لوبغاړي ولوبېدل، ترڅو په جون مياشت کې د سريلانکا پر وړاندې د درې نړيوالو يو ورځنيو سياليو لوبلړۍ ته ښه چمتووالی ونيسي. دغه راز د هېواد ځوان لوبغاړو ته د لا پرمختګ او غوره لوبيزو فرصتونو برابرولو په موخه د کورني کرکټ يو شمېر ځوانو لوبغاړو ته هم په يادو لوبډلو کې ځای ورکړل شوی و، ترڅو د خپلو ملي لوبغاړو ترڅنګ به په دغو سياليو کې ولوبېږي او ظرفيتونه يې لا زياته وده وکړي.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراييوي رييس ښاغلی نصيب خان د يادو سياليو د لومړي پړاو د کاميابۍ په اړه ووېل چې ملي لوبډلې په تمريناتو او د لوبډلې په چمتووالي کې يې اغېزمن رول درلود. نوموړي د يادو سياليو له پيله وړاندې ووېل: ((د زرغون افغانستان جام لومړی پړاو سيالۍ په خورا ښه بڼه ترسره شوې چې په هېواد کې د کرکټ د مينه والو له پراخ هرکلي سره مخ شوې. دغه راز يادو سياليو د ملي لوبډلې په چمتووالي کې خورا اغېزمن رول ولوباوه چې پرمټ يې افغان لوبډلې تېر کال د زمبابوې په سفر خپلې شپږ واړه لوبې وګټلې او ډک لاس هېواد ته راستنه شوه. دا چې افغان لوبډله په نږدې راتلونکي کې نړيوالې سيالۍ لري نو د افغانستان کرکټ بورډ غوره وګڼله چې د يادو سياليو دويم پړاو هم ترسره کړي ترڅو د راتلونکو سياليو لپاره افغان اتلان په ښه توګه تيار کړي.))

هندوکش سټرایکرز

هندوکش سټرایکرز لوبډلې نوم د هندوکش له مشهورې غرنۍ لړۍ اخیستل شوی دی چې له افغانستان نه سویلي اسیا هېوادونو په لوري غځېدلې ده. دا چې دغه غر په افغانستان کې ډېر مشهور دی او د سیمې په کلتور او تاریخ کې ستر نوم لري، له همدې امله یې د زرغون افغانستان جام سیالیو یوه لوبډله په همدې نوم نومول شوې ده. یادو سیالیو دویم پړاو هم ترسره کړې ترڅو د راتلونکو سیالیو لپاره افغان اتلان په ښه توګه تیار کړي.))

نوملړونه

نجیب الله ځدراڼ (لوبډلمشر)، ابراهیم ځدراڼ، احسان الله جنت، عثمان غني، شبیر نوري، خالد زاهدي، درویش رسولي، افسر خان ځاځی، کریم جنت، عبدالرحمن، حمزه هوتک، خلیل ګربز، مجیب الرحمن، نجات مسعود، ضیاءالرحمن شریفي، دولت ځدراڼ او وقارالله اسحاق.

پامیر لیجینډز

د پامیر لیجینډز لوبډلې نوم د هېواد په شمال ختیځ کې د پامیر غره له لړۍ اخیستل شوی دی. پامیر په نړیواله کچه یو له هغه غرونو څخه دی چې ډېر لوړوالی لري او (د نړۍ بام) په نوم هم یاد شوی دی. د دې غره یوه برخه د افغانستان په شمال ختیځ ولایت بدخشان کې موقعیت لري چې د تېرو څو پېړیو په اوږدو کې یې د بېلابېلو ټولنو او تېرونو ترمنځ د سوداګرۍ او کلتوري راکړې ورکړې لپاره د لارې په توګه کار اخیستل شوی دی.

نوملړونه

رحمت شاه زرمتی (لوبډلمشر)، ریاض حسن، حضرت الله ځاځی، محمد شهزاد، شاهدالله کمال، بهیر شاه محبوب، شوکت زمان، احمد ظاهر، ګلبدین نایب، شرف الدین اشرف، طاهر عادل، ظاهر خان، ابراهیم عبدالرحیمزی، فرید احمد ملک، عبدالباقي او سید احمد شیرزاد.

میوند ساتونکي

میوند د کندهار ولایت په لوېدیځ کې پرته ولسوالي ده چې د ۱۸۸۰ل کال د افغان-انګلیس دویمې تاریخي جګړې له امله، چې پکې افغان مجاهدینو تاریخي بریا خپله کړې ده، مشهوره ده. له دې تاریخي پېښې وروسته میوند د افغانستان په تاریخ کې د مقاومت او زړورتیا بېلګه ګڼل کېږي. له همدې امله د زرغون افغانستان جام سیالیو کې هم یوې لوبډلې ته د (میوند ساتونکي) نوم ورکړل شوی دی، ترڅو د دغې ولسوالۍ نوم، برم او یاد تازه وساتل شي.

نوملړونه

حشمت الله شهیدي (لوبډلمشر)، نورعلي ځدراڼ، عبدالمالک، صدیق الله اتل، ناصر جمال، سمیع الله شینواری، اکرام علي خیل، حیات الله ناصري، بهار علي شینواری، ننګیال خروټی، قیس احمد، عظمت الله عمرزی، ضیاءالرحمن اکبر، یمین احمدزی، افتاب علم او وفادار مومند.

جونیر چېمپینز

جونیر چېمپینز لوبډله د زرغون افغانستان جام سیالیو په دویم پړاو کې ولوبېده، دا چې په دې لوبډله کې د هېواد د نولس کلنې کم عمره کرکټ ملي لوبډلې ځوان لوبغاړي لوبېږي نو له همدې امله دغه لوبډله د جونیر چېمپینز (Junior Champions) یا د ځوانو اتلانو په نوم نومول شوې ده.

نوملړونه

محمد هارون (لوبډلمشر)، سهیل خان، سلیمان عربزی، حزب الله درانی، کامران هوتک، نعمان شاه، خالد تڼیوال، وفي الله تره خېل، اکرم محمدزی، جمشید ځدراڼ، علي احمد ناصر، ناصر حسن، الله محمد غضنفر، ګلزار خان، نصیر خان، بشیر احمد، فریدون داودزی، یما عرب، خلیل احمد او جمیل شینواری.

dafaNEWS
PAMIR LEGENDS
Super Cola

پروډکشن او ژوندي نشرات:

د افغانستان کرکټ بورډ له ملي راډيو تلويزيون سره د دويم پړاو زرغون افغانستان جام سياليو د نشراتي توليد يا پروډکشن او د سياليو د ژوندي خپراوي دوه اړخيز تړون لاسليک کړ چې له مخې يې ملي راډيو تلويزيون د يادو سياليو نشراتي توليد مسووليت درلود او په بدل کې يې د افغانستان کرکټ بورډ د يادو سياليو رسنيز حقوق ملي راډيو تلويزيون ته ورکړل چې په افغانستان کې يې دغه سيالۍ په ژوندۍ بڼه نشر کړې.
په هېواد کې د ملي تلويزيون په پرده د يادو سياليو د ژوندي خپراوي ترڅنګ دغه سيالۍ د افغانستان کرکټ بورډ د زرغون افغانستان جام سياليو له رسمي فېسبوک پاڼې هم په ژوندۍ بڼه خپرې شوې. دغه راز له هېواده بهر په هند کې د فېن کوډ (Fancode) او په انګلستان کې د (Hampshire Sports Limited - HSL) له لارې، چې د سپورتي فعاليتونو د ژوندي خپراوي انلاين کانالونه دي، هم په ژوندۍ بڼه خپرې شوې.
د پراخ تلويزيوني پوښښ ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو رسمي او د زرغون افغانستان جام سياليو لپاره د ځانګړو ټولنيزو رسنيو د پاڼو له لارې يادو سياليو ته غوره رسنيز پوښښ ورکړ چې د سياليو له پيله وړاندې لوبغالي د چمتووالي ترڅنګ د لوبغاړو، روزونکو او بېلابېلو اړوند تخنيکي کسانو مرکې او نور موارد شامليږي چې په منظم ډول نشر او يادو سياليو په خورا ښه توګه کمپاين وشو. دغه راز د يادو سياليو په لړ کې د لوبو تازه حال په انځوريز او ويډيويي بڼه په خورا ښه ډول وړاندې شو. د لوبې شېبه په شېبه انځورونه، ګرافيک ډيزاين، د لوبغاړو او روزونکو مرکې، راپورونه او نور اړونده تازه جزيات په خورا ښه توګه د ټولنيزو رسينو له لارې نشر شول.

مالي ملاتړي:

د زرغون افغانستان جام سياليو دويم پړاو د عمومي مالي ملاتړ حقوق د افغانستان ملي شرکت سوپرکولا ترلاسه کړل. له تړون سره سم، سوپر کولا شرکت ته د يادو سياليو د نوم حقوق هم ورکړل شول چې له مخې يې دغه سيالۍ د سوپرکولا زرغون افغانستان جام سياليو په نوم يادېدې. دغه راز د ياد تړون له مخې د سوپرکولا شرکت نښان د ټولو ګډون کوونکو لوبډلو د لوبو او د تمريناتو لباسونو هم چاپ شو.
سربېره پردې ډافانيوز (DafaNews) د يادو سياليو د دويم مالي ملاتړ يا (Powered-By Sponsorship Rights) حقوق ترلاسه کړل. د دې ترڅنګ ګڼو نورو ملي او کورنيو شرکتونو ته هم په يادو سياليو کې د بېلابېلو برخو د مالي ملاتړ حقوق ورکړل شوي وو.

پايلوبه او غوره لوبغاړي:

د سوپرکولا زرغون افغانستان جام سياليو د لومړي راونډ-روبېن پړاو په پای کې د رحمت شاه زرمتي په مشرۍ د پامير ليجينډز لوبډله په ۵ برياو او ۱۰ نمرو سره د جدول لومړی او د حشمت الله شهيدي په مشرۍ د ميوند ساتونکو لوبډلې په ۴ برياو او ۹ نمرو سره د يادو سياليو په درجه بندۍ کې دويم مقام خپل کړ او په دې سره يې د يادو سياليو وروستۍ پايلوبې ته لاره ومونده چې د مې مياشتې په ۱۷مه نېټه په خوست کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه.
د دغو سياليو د پايلوبې د ليدو په موخه له کوربه خوست، پکتيا، پکتيکا، لوګر او د کابل په ګډون له نورو نږدې ولايتونو ګڼ شمېر د کرکټ مينه وال او لوړپوړي دولتي چارواکي راغلي وو. د دغې لوبې په لومړۍ پاڼۍ کې د ميوند ساتونکو لوبډلې د حشمت الله شهيدي د سليزې پر مټ خورا ښه لوبه وکړه او د پامير ليجينډز سيالې لوبډلې ته يې د ۲۹۷ منډو هدف وټاکه، له لنډې دمې وروسته دويمه پاڼۍ پيل شوه خو يوازې له ۷ اوره لوبې وروسته شديد ورښت پيل شو چې له امله يې لوبه وځنډېده، د وخت په تېرېدو سره ورښت لا زيات شو او ډېر دوام يې وموند چې له امله يې پايلوبه بې پايلې اعلان شوه او د دغو سياليو د اتلولۍ جام په ګډه دواړو لوبډلو ته ورکړل شو.
د پامير ليجينډز لوبډلې لوبډلمشر رحمت شاه زرمتي په ۷ پاڼيو کې د دوه سليزو او يوې نيمه سليزې پرمټ د ۹۱.۷۵ منډو په اوسط ۳۶۷ منډې جوړې کړې او د دغو سياليو د غوره توپوهونکي جايزه يې ترلاسه کړه. دغه راز د دې لوبډلې توپ اچوونکي ظاهر خان د توپ اچونې له ۲۰ منډو اوسط او ٦.۷۲ منډو له ايکانومي رېټ سره ۱۹ وېکټې ترلاسه کړې چې له امله يې د سياليو تر ټولو غوره توپ اچوونکی ونومول شو.
د دې ترڅنګ د يادې لوبډلې بل تکړه لوبغاړي ګلبدين نايب په يادو سياليو کې د توپ اچونې له نږدې ۲۲ منډو اوسط او ۵.۴۳ منډو ايکانومي رېټ سره ۱۱ وېکټې ترلاسه کړې او هم يې د يوې نيمه سليزې پرمټ د ۳۷.۵۰ منډو له اوسط سره ۱۵۰ منډې کړې چې پرمټ يې د يادو سياليو ترټولو غوره لوبغاړی ونومول شو. سربېره پردې د جونير چېمپينز لوبډلې ځوان پيليز توپوهونکی وفي الله تره خيل په ۴ پاڼيو کې د يوې نيمه سليزې پرمټ د ۳۴ منډو په اوسط سره ۱۳٦ منډې جوړې کړې او د سياليو ترټولو ځوان يا ايمرجنګ لوبغاړی ونومول شو.
د زرغون افغانستان جام سيالۍ تېر کال د افغانستان د کورني کرکټ په جوړښت کې ځای پر ځای شوې چې پکې د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لېسټ اې او د وزير محمد اکبر خان ولايتي يو ورځنۍ سيالۍ له وړاندې ځای لري. د کورني کرکټ په جوړښت کې د دې سترو سياليو په شاملولو سره د کورني کرکټ سياليو لا زياته تنوع موندلې چې ورسره د کورني کرکټ د يو ورځنيو سياليو او په ټوله کې د کورني کرکټ کيفيت نور هم لوړ شوی دی.

ابراهیم ځدران

د یوه ستر نړیوال ریکارډ په لوري

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه پیلیز توپوهونکي ابراهیم ځدران په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۵۰۰ منډې پوره کړې. ابراهیم ځدران دغه کارنامه یوازې په خپله نهمه لوبه کې ثبت کړه. نوموړي د جون میاشتې په دویمه نېټه د سریلانکا پر وړاندې لومړۍ یو ورځنۍ سیالۍ کې ۹۸ منډې جوړې کړې او د افغان لوبډلې په بریا کې یې ستر رول درلود. دا په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د ابراهیم لومړنۍ پنځوسیزه شوه، نوموړي له دې وړاندې په خپلو لومړیو ۸ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې درې سلیزې جوړې کړې وې.

ابراهیم ځدران د ۱۷ کلونو په عمر په ۲۰۱۹م کال کې خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ سیالي د ویسټ انډیز پر وړاندې په هند کې د لکنو ښار اړوند په ایکانا کرکټ لوبغالي کې ترسره کړه. نوموړي په یو ورځنیو سیالیو کې خپل سفر په ښه توګه پیل نکړ او په لومړۍ لوبه کې یې یوازې ۲ منډې جوړې کړې، ابرهیم خپله دویمه نړیواله یو ورځنۍ لوبه له لومړۍ هغې دوه کاله وروسته وکړه او دریمه یې له دویمې هغې درې میاشتې وروسته؛ او په دغو سیالیو کې یو ځلې هم له ۲۰ ډېرې منډې جوړې نکړې، خو په خپله څلورمه لوبه کې یې بهترینه توپوهنه وکړه او خپله لومړنۍ سلیزه یې د زمبابوې پر وړاندې جوړه کړه.

له دې وروسته نوموړي د تېر کال په نومبر میاشت کې د سریلانکا پر وړاندې دوه نورې سلیزې هم جوړې کړې او دا ځل یې د روان کال په جون میاشت کې د سریلانکا په سفر په لومړیو دوه سیالیو کې بیا هم نیمه سلیزې جوړې کړې. ابراهیم ځدران په خپله نهمه لوبه کې ۵۰۰ منډې بشپړې کړې او په نړیواله کچه له افریقایي یانېمن مېلن وروسته له انګلستاني کېون پیټرسن او ډېنیس امېس، پاکستاني امام الحق او هالنډي ټام کوپر سره په ګډه دویم توپوهونکی شو چې په کمو سیالیو کې ۵۰۰ منډې پوره کوي.

په لومړیو لسو پاڼیو کې د ۵۸۵ منډو په جوړولو سره ابراهیم ځدران په نړیواله کچه په لومړیو لسو لوبو کې د مخکښو توپوهونکو ترمنځ پنځم مقام لري. که دغه سیالۍ یوازې تر پیلیزو توپوهونکو محدوده کړو نو ابراهیم ځدران دریم مقام ته رسېږي چې یانېمن مېلن (٦٦١ منډې) او امام الحق (۵۹۴ منډې) وروسته یې په خپلو لومړیو لسو سیالیو کې ډېرې (۵۸۵) منډې جوړې کړې دي.

ابراهیم ځدران دغه راز د یانېمن مېلن او امام الحق ترڅنګ له دریو هغو توپوهونکو دی چې په خپلو لومړنیو ۸ پاڼیو کې درې سلیزې جوړوي. نوموړی په همدې کم ۲۲- کاله عمر او یوازې ۱۱ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لوبولو وروسته اوسمهال له پاکستاني مصباح الحق، هندي سنیل ګواسکر او اسټرالیوي ګلین مکسویل ډېرې؛ او د اسټرالیا له سټېو وا او مایکل هسي او د انګلستان له بین سټوکس سره یو ډول؛ درې سلیزې لري.

په ۱۱ سیالیو کې د نږدې ٦۱ منډو په اوسط د ٦۰۷ منډو په جوړولو ابراهیم ځدران کولی شي چې د چټکو یا په کمو سیالیو کې د ۱۰۰۰ منډو جوړولو ریکارډ یا کارنامه په خپل نوم کړي. دغه ریکارډ اوسمهال له پاکستاني فخر زمان سره دی، چا چې په خپله اتلسمه پاڼۍ کې ۱۰۰۰ منډې جوړې کړې دي. د دې ریکارډ د ماتولو لپاره ابراهیم ځدران ته پکار دي چې په خپلو راتلونکو ٦ سیالیو کې پاتې ۳۹۳ منډې جوړې کړي.

له بلې خوا په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د درې سلیزو په جوړولو سره ابراهیم ځدران د افغان توپوهونکو له منځه له رحمن الله ګربز سره په ګډه دریم مقام لري. یوازې رحمت شاه زرمتی، چې په ۵ سلیزو سره دویم او محمد شهزاد، چې په ٦ سلیزو سره لومړی مقام لري، له نوموړي وړاندې دي.

ابراهیم ځدران که په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې خپله توپوهنه همداسې جاري وساتي نو په راتلونکو څو میاشتو او کلونو کې ښایي ډېر پخواني ریکارډونه مات، نوې کارنامې ثبت او د افغانستان او نړۍ په کرکټ کې د ځان لپاره یو ځانګړی نوم او نښان جوړ کړي.

اسدالله خان
د غوراوي کمېټې
د نوي مسوول په توګه په دنده وګومارل شو

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه ښاغلی اسدالله خان د غوراوي کمېټې د نوي مشر په توګه په دنده وګوماره چې له دې وړاندې دغه مسوولیت ښاغلي نورالحق ملکزي پر مخ بېوه چې نوموړي اوسمهال د شخصي بوختیاو له امله له یاد بست استعفا وکړه چې له دې وروسته به یادې کمېټې د غړي په توګه دنده پر مخ وړي.

ښاغلی اسدالله خان له دې وړاندې له افغانستان کرکټ بورډ سره د کار اوږده مخینه لري چې د سرپرست اجرایيوي رییس، د لوبغاړو د غوراوي کمېټې د مشر او د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د پخواني ویډیو انالیسټ په ګډون یې په بېلابېلو برخو کې مسوولیتونه ترسره کړي دي. نوموړی دغه راز د روزنې دریمه درجه سند هم لري او د تېر څه باندې یوه کال راهیسې یې د قطر له کرکټ بورډ سره د کرکټ د ډایرکټر په توګه دنده ترسره کړې ده.

د لوبغاړو د غوراوي کمېټې د جوړښت له مخې به ښاغلی اسدالله خان د یادې کمېټې مشر او نورالحق ملکزی، میر مبارز اصغري او احمد شاه سلیمانخېل د یادې کمېټې د غړو په توګه دندې پرمخ وړي. دغه راز به محمد خان ځدراڼ او د تاج ملوک عالم د کورني کرکټ سیالیو لپاره د لوبډلو ټاکنه کوي.

ښاغلی اسدالله خان وایي، خوښ دی چې یو ځل بیا د افغانستان کرکټ بورډ سره کار پیلوي او د لوبغاړو د غوراوي کمېټې د مشرۍ ستر مسولیت ته غاړه ورکوي. نوموړی زیاتوي: ((د افغانستان کرکټ بورډ له مشرتابه مننه کوم چې د لوبغاړو د غوراوي کمېټې د مشر په توګه یې په ما باور وکړ. د افغانستان کرکټ بورډ زما لپاره نوې اداره نده ځکه ما له دې وړاندې په ګڼ شمېر بستونو دنده ترسره کړې ده. دا خورا لوی مسولیت دی او هڅه به مې دا وي چې د افغانستان ټولو ملي لوبډلو ته د کرکټ په هره بڼه کې وړ لوبغاړي پیدا او د لوبېدو لپاره ورته موقع برابرې کړم ترڅو د هېواد ښه استازولی وکړی شي او هېواد ته ویاړونه راوړي.))

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي مشر ښاغلي میرویس اشرف د نوموړي د ټاکنې په اړه وویل: ((ملکزي په تېر څه باندې یوه کال کې د لوبغاړو په ټاکنه کې خپل مسوولیت په خورا ښه توګه ترسره کړ، ملي لوبډلې ته یې وړ لوبغاړي وټاکل او ډېر پام یې ځوانانو ته وو چې ښې پایلې یې هم لرلې. زه اسدالله خان ته هم مبارکي وایم او هیله من یم چې نوموړی به خپل نوی مسوولیت په ښه توګه ترسره کړي، ترڅو افغان لوبډله په نړیواله کچه سترو لوبډولو ته ماتې ورکړي او ښې لاسته راوړنې ولري.))

له بلې خوا د لوبغاړو د غوراوي کمېټې پخوانی مشر نورالحق ملکزی د افغانستان کرکټ بورډ له مشرتابه مننه کوي چې په دې برخه کې یې په ده باور کړی و. ښاغلی ملکزی زیاتوي: ((زه ویاړم چې د افغانستان کرکټ بورډ ویاړلې ادارې لپاره مې د غوراوي کمېټې د مشر په توګه کار کړی. دا چې خپلې شخصي او کورنۍ بوختیاوې لرم او نشم کولی چې دې ستر مسوولیت ته له دې وروسته اوږه ورکړم نو له همدې امله مې د افغانستان کرکټ بورډ له مشرتابه هیله وکړه چې یوازې د یادې کمېټې د غړي په توګه دنده پر مخ یوسم. زه دغه راز ښاغلي اسدالله خان ته د غوراوي کمېټې د نوي مشر په توګه ګمارل کېدو د مبارکۍ ترڅنګ په چارو کې د بریاو هیله لرم. زه به خپله پوره هڅه کوم چې له افغانستان کرکټ بورډ سره خپلې دندې او ښاغلي اسدالله خان سره خپلې همکارۍ ته په پوره لېوالتیا ادامه ورکړم.))

نوموړی د ۲۰۲۲م کال د فبروري میاشتې په ۲۱مه نېټه د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې مشر ټاکل شوی و چې له هغه وروسته یې تر اوسه دغه مسولیت په خورا ښه توګه پرمخ وړی و. د نوموړي تر مشرۍ لاندې د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې د بېلابېلو نړیوالو او کورنیو سیالیو لپاره د لوبډلو ټاکنه کړې وه چې خورا ښې پایلې یې درلودې.

د افغانستان او سریلانکا کرکټ بورډونو
مشرتابه پر دوه اړخیزو همکاریو خبرې وکړې

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه سریلانکا هېواد ته د خپل وروستي سفر په ترڅ کې د یاد هېواد د کرکټ بورډ له مشرانو سره د کرکټ په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا او د ګډو همکاریو په اړه ناسته وکړه. د یادې ناستې په جریان کې د افغانستان او سریلانکا ترمنځ د ۲۰۲۴م کال په جنوري میاشت کې راتلونکې لوبلړۍ ته چې پکې یوه ټیسټ او درې نړیوالې شل اوریزې سیالۍ له وړاندې شاملې دي، د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په اضافه کولو سربېره د الف، نولس کلنې کم عمره او ایمرجنګ لوبډلو لپاره د سیالیو د برابرولو ترڅنګ په ګڼ شمېر نورو مهمو موضوعاتو خبرې اترې وشوې.

د کرکټ نړیوالې شورا د راتلونکو سفرونو د پروګرام له مخې به افغان لوبډله د راتلونکي ۲۰۲۴م کال په لومړۍ میاشت کې سریلانکا ته د یوې ټیسټ او درې نړیوالو شل اوریزو سیالیو په موخه سفر وکړي. د افغانستان کرکټ بورډ چارواکو په دغه ناست کې له ډېرو خبرو اترو وروسته د سریلانکا کرکټ بورډ له چارواکو سره دې هوکړې ته ورسېدل چې دغې لوبلړۍ ته درې یو ورځنۍ سیالۍ هم اضافه کړي ترڅو د یوې بشپړې او هر اړخیزې لوبلړۍ په ترڅ کې دواړه لوبډلې ډېرې لوبې ترسره کړي.

دغه راز د سریلانکا کرکټ بورډ د لا زیاتې همکارۍ په موخه د افغانستان کرکټ بورډ ته خپل دوه نړیوال کرکټ لوبغالي په واک کې ورکړل ترڅو پکې په خپل کوربه توب نړیوالې سیالۍ ترسره کړي. په دې سره به د افغانستان کرکټ بورډ وکولی شي چې په سریلانکا کې د نورو نړیوالو لوبډلو کوربه توب وکړي. دا چې د ۲۳ کلونو لوبغاړو ترمنځ ایمرجنګ اسیا جام او د ۲۰۲۴م کال نولس کلنو کم عمره لوبغاړو نړیوال جام سیالۍ په سریلانکا کې ترسره کېږي، نو د افغانستان کرکټ بورډ به وکولی شي چې د یادو سیالیو له پیله وړاندې د خپلو لوبډلو د چمتووالي په موخه په سریلانکا کې د نورو لوبډلو کوربه توب وکړي چې د رسمي سیالیو پرمهال به خورا ښې پایلې ولري.

په دې اړه د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي میرویس اشرف وویل: ((زه ډېر خوښ یم چې د سریلانکا کرکټ بورډ له چارواکو سره مو خورا ښه ناسته درلوده چې په ترڅ کې مو یې سریلانکا ته د خپل راتلونکي سفر ته، چې د راتلونکي کال په پیل کې به ترسره کېږي او پکې ټیسټ او شل اوریزې سیالۍ شامل دي، درې نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ هم شامل کړې. دغه راز مو په سریلانکا کې د دوه لوبغالو په لرلو هوکړه وکړه چې پکې به راتلونکي کې په خپل کوربه توب سیالۍ ترسره کوو، د هېواد د ځوانو لوبډلو لپاره د لا زیاتو لوبو په برابرولو مو خبرې اترې وکړې. په ټوله کې ډېره ښه ناسته مو درلوده او هیله من یم چې د افغانستان د کرکټ لپاره به ښې پایلې ولري)).

د دې ترڅنګ دواړه خواو په دې خبرې وکړې چې د الف، ایمرجنګ او نولس کلنو کم عمره لوبډلو لپاره په راتلونکو څو میاشتو کې ډېرې سیالۍ برابرې کړي چې په ترتیب سره به د دواړو کرکټ بورډونو په کوربه توب ترسره شي. په دې سره به دواړه کرکټ بورډونه خپلو ځوانو لوبډلو ته د لا زیاتو تجربو ترلاسه کولو او ډېرو نړیوالو سیالیو ترسره کولو غوره موقع برابرې کړي. د دغو ناستو په پایله کې د افغانستان کرکټ بورډ مشرانو له خپلو سیالانو د یوه کامیابه سفر، په زړه پورې سیالیو د بشپړولو او افغان لوبډلې ته د غوره اسانتیاوو برابرولو له امله مننه وکړه او په راتلونکي کې یې په لا زیاتو دوه اړخیزو همکاریو ټینګار وکړ.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان کرکټ بورډ چارواکو له دې وړاندې د کرکټ نړیوالې او اسیایي شورا له مشرانو سره پرلپسې ناستې ترسره کړې چې پکې یې د افغانستان د کرکټ، د کرکټ نړیوالې شورا د راتلونکو سفرونو د پروګرام، د افغانستان کرکټ بورډ د بودیجې د زیاتوالي، افغان لوبډلې ته د لا زیاتو سیالیو په برابرولو او له نورو کرکټ بورډونو سره په هر اړخیزو اړیکو او دوه اړخیزو همکاریو خبرې اترې کړې دي.

افغان اتلان له سریلانکا وروسته بنګله دېش کې په سیالیو بوخت دي

د افغانستان کرکټ ملي لوبډله د سریلانکا پر وړاندې د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو له لوبلړۍ وروسته د روانې جون میاشتې په لسمه نېټه بنګله دېش ته ورسېده. افغان لوبډله به د کوربه بنګله دېش پر وړاندې د یوې ټېسټ لوبې سربېره د راتلونکې جولای میاشتې له ۵مې تر ۱٦مې نېټې پورې درې نړیوالې یو ورځنۍ او دوه نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړي.

د بنګله دېش پر وړاندې ټېسټ لوبه:

د افغانستان کرکټ بورډ د جون میاشتې په ۷مه نېټه د بنګله دېش پر وړاندې د یوازینۍ ټیسټ لوبې لپاره خپله ۱۵-کسیزه لوبډله اعلان کړه. افغان لوبډلې ته چټک توپ اچوونکي ابراهیم عبدالرحیمزی او نجات مسعود او ځوان ښي لاسی لیګ بریک توپ اچوونکی اظهار الحق نوید د لومړي ځل لپاره ټاکل شوي و. دغه راز کریم جنت چې په تېر پړاو احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو کې یې خورا ښې لوبې وکړې او د یادو سیالیو غوره لوبغاړی ونومول شو، هم د دغې لوبډلې ته ټاکل شوی و. له بلې خوا د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځلانده ستوري

راشد خان ته د بنګله دېش پر وړاندې یاده ټیسټ لوبه کې ارام ورکړل شوی و. دغه افغان ستوري د سریلانکا په سفر د درې یو ورځنیو سیالیو له پیله وړاندې د ملا په برخه کې درد پیدا کړ چې له امله یې د سریلانکا پر وړاندې په لومړیو دوه سیالیو کې ونه لوبېده. نوموړی که څه هم په دریمه لوبه کې د لوبډلې برخه و، خو د لوبډلې د مدیره هیئت، فیزیو یا ډاکټر او غوراوي کمېټې د غړو ترمنځ له اوږدې سلا مشورې وروسته دا پرېکړه وشوه چې د راشد خان اوږدمهالې روغتیا ته باید پاملرنه وشي او له همدې امله د بنګله دېش پر وړاندې په یوازینۍ ټیسټ لوبې لپاره په لوبډله کې وانخیستل شو.

دا چې افغان لوبډله په راتلونکو څو میاشتو کې د اسیا جام او نړیوال جام په څېر مهمې سیالۍ په مخ کې لري نو د افغانستان کرکټ بورډ د راشد خان د بشپړې روغتیا په موخه محتاطانه اقدام وکړ او نوموړي ته د بشپړ ارام ورکولو په خاطر د بنګله دېش پر وړاندې لوبه کې رخصت ورکړ ترڅو له بشپړې روغتیا وروسته د بنګله دېش پر وړاندې د یو ورځنیو او شل اوریزو سیالیو د لوبلړیو ترڅنګ د راتلونکو سترو او مهمو سیالیو لپاره په بشپړه توګه چمتو واوسي.

د بنګله دېش پر وړاندې د یوازینۍ ټیسټ لوبې لپاره د افغان لوبډلې په نوملړ کې حشمت الله شهیدي (لوبډلمشر)، رحمت شاه زرمتی (مرستیال لوبډلمشر)، افسر خان ځاځی او اکرام علي خېل وېکټ ساتونکي، ابراهیم ځدراڼ، عبدالمالک، ناصر جمال، بهیر شاه، کریم جنت، اظهار الحق نوید، ظاهر خان، حمزه هوتک، ابراهیم عبدالرحیمزی، نجات مسعود او یمین احمدزی شامل و. سربېره پر دې ضیاءالرحمن اکبر، عظمت الله عمرزی، نورعلي ځدراڼ او سید احمد شیرزاد د احتیاطي لوبغاړو په توګه له لوبډلې سره مل و.

د بنگله دېش پر وړاندې د افغان لوبډلې یوازېنۍ ټیسټ لوبه د جون میاشتې په ۱۴مه نېټه پیل شوه چې پکې افغان لوبډلې د پچې له کتلو وروسته لومړی توپوهنه غوره کړه. کوربه لوبډلې د لوبې په دواړو پاڼیو کې خورا ښه توپوهنه وکړه خو دا چې د بنگله دېش د هوا حالات د افغان لوبغاړو لپاره ډېر مختلف و نو په دې بریالي نشول چې د کوربه لوبډلې پر وړاندې ښه لوبه وکړي او په همدې ترتیب سره یې د ۵۴٦ منډو په توپیر سره ماتې ومنله. افغان لوبډلې که څه هم په دغه سیالۍ کې له توقع سره سمه لوبه ونکړه او په لوی توپیر له ماتې سره مخ شوه خو د افغان لوبډلې لپاره ښه خبره دا وه چې ښي لاسي چټک توپ اچوونکي نجات مسعود د افغانستان لپاره په لومړي ځل ټیسټ لوبه وکړه او په خپله لومړنۍ پاڼۍ کې یې ۵ وېکټې ترلاسه کړې.
نوموړی له حمزه هوتک وروسته دویم افغان لوبغاړی شو چې په خپله لومړنۍ ټیسټ لوبه کې پنځه وېکټې ترلاسه کوي، له بلې خوا نوموړی لومړنی افغان چټک توپ اچوونکی شو چې په ټیسټ کرکټ کې ۵ لوبغاړي له ډگره بهر کوي. نجات مسعود دغه راز په دغه سیالۍ کې په خپل لومړني توپ وېکټ ترلاسه کړه، دا په ۲۱مه پېړۍ کې یوازې اووم ځل شو چې یو لوبغاړی دې د خپل ټیسټ کرکټ په لومړني توپ وېکټ ترلاسه کوي.
د ټیسټ لوبې له پای ته رسېدو وروسته افغان لوبډلې په متحده عربي اماراتو کې یوه تمریناتي کمپ کې گډون وکړ، ترڅو د بنگله دېش پر وړاندې یو ورځنیو او شل اوریزو سیالیو ته چمتووالی ونیسي. د یادونې وړ ده چې د افغان لوبډله به د راتلونکې جولای په ۵مه، ۸مه او ۱۱مه نېټه د کوربه لوبډلې پر وړاندې درې نړیوالې یو ورځنۍ او د همدې میاشتې په ۱۴مه او ۱٦مه نېټه دوه نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړي. د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ به د چټوگرام په ظهور احمد چودري کرکت لوبغالي او د شل اوریزو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ به د یاد هېواد د سېلهېټ پر نړیوال کرکټ لوبغالي کې ترسره شي.

په کرکټ کې
اوور ریټ څه ته ویل کیږي
او ولې یې له امله لوبغاړي جریمه کیږي؟

پیژندنه:
د کرکټ په لوبه کې اوور ریټ (Over Rate) هغه اوسط وخت ته ویل کیږي چې پکې یو اور ترسره کیږي. په بل عبارت اوور ریټ د اورونو هغه اوسط شمېر ته ویل کیږي چې په یو ساعت وخت کې ترسره کیږي. د کرکټ لوبې په دری واړو بڼو کې د اورونو ترسره کولو لپاره ځانګړی وخت ورکول کیږي چې باید پکې د توپ اچونې اړخ ټاکلې اندازه اورونه بشپړ کړي. که د توپ اچونې اړخ په ټاکل شوي وخت کې ټاکلې اندازه اورونه بشپړ نکړي نو له امله یې سلو یا ورو اوور ریټ (Slow Over Rate) رامنځته کیږي. په بل عبارت، د توپ اچونې اړخ په دې ندی بریالی شوی چې په ټاکلي وخت کې خپل اورونه پوره کړي او ډېر وخت یې ضایع کړی دی.

اصول:
د کرکټ نړیوالې شورا د اصولو له مخې په ټیسټ کرکټ کې د یوې ورځې په ترځ کې باید ۹۰ اورونه ترسره شي، د یوې ورځې لوبه بیا په درې بېلابېلو برخو (سېشنو) وېشل شوې ده چې هره برخه په سهار، ماسپښین او مازدیګر کې ترسره کیږي، د لومړیو دوه برخو د بشپړولو لپاره دوه ساعته خو د دریمې برخې لپاره دوه نیم ساعته وخت ځانګړی شوی دی. د ټیسټ کرکټ د اصولو له مخې باید په یو ساعت کې ۱۵ اورونه ترسره شي، په دې حساب سره په هره برخه کې باید ۳۰ اورونه ترسره شي او که کومه لوبډله په لومړیو دوه برخو کې د ټاکلي اندازې اورونو په بشپړولو کې پاتې راشي نو په دریمه برخه (سېشن) کې بیا نیم ساعت اضافه وخت ورکول کیږي ترڅو خپل اورونه بشپړ کړي.
دغه راز د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د یوې پانۍ د بشپړولو لپاره ۳ نیم ساعته وخت ځانګړی شوی چې په دې حساب سره باید په هر ساعت کې ۱۴.۲۸ اورونه ترسره شي. سربېره پر دې د شل اوریزو نړیوالو سیالیو د یوې پانۍ لپاره ۹۰ دقیقې وخت ټاکل شوی او په یاده بڼه کې باید د توپ اچونې اړخ په هر ساعت کې ۱۳.۳ اورونه بشپړ کړي.
که کومه لوبډله د خپلې توپ اچونې پرمهال په پورته ذکر شویو وختونو کې ټاکلي اورونه بشپړ نکړي نو د کرکټ نړیوالې شورا د سلو یا ورو اوور ریټ د اصولو او مقرراتو له مخې جریمه کیږي.
دغه جریمه ممکن په بېلابېلو ډولونو وضع شي چې پکې د لوبې د فیسونو کمول یا نغدي جریمې، د لوبډلمشر لپاره د لوبو بندیز، د منډو جریمې (مقابلې لوبډلې ته یوه اندازه اضافه منډې ورکول) او په ډګر ساتنه کې د محدودیتونو وضع کول شاملیږي.
د جریمې د وضع کولو پریکړه او صلاحیت په مېچ ریفري پورې اړه لري. د نویو اصولو او مقرراتو له مخې په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې ډېرې وخت په د توپ اچونې اړخ په ډګرساتنه کې محدودیتونه وضع کیږي. په یو ورځنیو نړیوالو کې به هم له دې وروسته د ډګرساتنې محدودیتونه پلي کیږي، حال دا چې په ټیسټ کرکټ کې د لوبو بندیزونه او نغدي جریمې وضع کیږي.
البته ناڅاپي وقفې، د لوبغاړو د ټپي کېدو وقفې، د اوبو د څښلو دمې او د پرېکړو د بیا کتنې لپاره اضافي وخت په پام کې نیول کیږي او هغه د توپ اچونې اړخ پسې د اورونو د بشپړولو لپاره په ټاکل شوي وخت کې نه حسابیږي، بلکه د توپ اچونې اړخ د دغسې ضروري ځنډ او ځنډ لپاره اضافي وخت ورکول کیږي.

د جریمو ډولونه:
په ټیسټ کرکټ کې د سلو اوور ریټ له امله ډېر کله د لوبډلمشران له بندیزونو سره مخ شوي او ډېر ځلې له لوبو کېنول شوي دي.
دا چاره د وخت په تېرېدو سره د کرکټ د بورډونو، په خپله د لوبډلمشرانو او تر دې چې د کرکټ د مینه والو له ګنو نیوکو سره مخ شوه، ځکه چې لوبډلو به په خورا مهمو سیالیو لپاره د لوبډلې مهم غړي له لاسه ورکړل چې په پایله کې به یې له ماتو سره مخ شوه. د وخت په تېرېدو سره د یادې جریمې ډول بدل شو او د مېچ فیسونو د کمولو، نغدي جریمو او تر دې چې د لوبډلې د امتیازونو یا نمرو تر کمولو پورې په بېلابېلو ډولونو جریمې وضع شوې.
دغه ډول جریمې په بېلابېلو وختونو کې د کرکټ لوبې په ټولو بڼو کې وضع شوې دي. اوسمهال په ټیسټ کرکټ کې د لوبډلو د نمرو (Points) کمول او نغدي جریمې وضع کیږي. له تېر څه کم یوه کال راهیسې په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې د سلو اوور ریټ ساتلو د جریمې په توګه د ډګرساتنې محدودیتونه وضع کیږي. که د توپ اچونې اړخ په ټاکل شویو ۹۰ دقیقو کې خپل ۲۰ اورونه بشپړ نکړي نو د ۹۰ دقیقو له بشپړېدو وروسته د پاتې اورونو لپاره باید یو ډګر ساتونکی دایرې ته راوبولي، یعنی د پاتې اورونو لپاره به له دایرې بهر، د بونډرۍ د ساتلو په موخه یوازې په څلورو لوبغاړو ډګرساتنه کوي او پنځم ډګرساتونکی به یې د جریمې په ډول دایرې ته ننوځي. دا چاره د دې لامل شوه چې اړونده لوبډلې خپل یو ډګرساتونکی له لاسه ورکړي او په حساس وخت کې خصوصاً له هدف د دفاع پرمهال له ستونزو سره مخ او په مهمو سیالیو کې ماتې سره مخ شي.
په شل اوریزو سیالیو کې د ډګرساتنې محدودیتونو وضع کولو ښه پایله ورکړې ده او اوس ټولې لوبډلې هڅه کوي چې خپل اورونه په ټاکلي وخت کې پای ته ورسوي. د دې چارې د کامیابۍ وروسته اوس تازه پرېکړه شوې ده چې په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې هم هم د ډګرساتنې محدودیتونه پلي کړي. نویو اصولو له مخې د توپ اچونې اړخ مکلف دی چې د ۲۱۰مې دقیقې په جریان کې د خپلې پانۍ وروستی اوور پیل کړي، خو که تر دې وخته خپل وروستی اور پیل نکړي نو د پاتې اورونو لپاره به یې له بونډرۍ نه یو ډګرساتونکی کمیږي او دایرې ته به ننوځي. په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې دغه اصل د ۲۰۲۳م کال جون میاشتې له لومړۍ نېټې وروسته د پلي کېدو وړ شو، چې د ۲۰۲۳م کال د نړیوال جام لپاره د غوراوي پړاو سیالیو کې هم ورکول شو.
په ټیسټ کرکټ کې د سل اوور ریټ له امله د جریمې ستر تاوان څه موده وړاندې د استرالیا لوبډلې پرې کړ. په ۲۰۲۰م کال کې د ټیسټ لوبو د نړیوالې اتلولۍ پرمهال د استرالیا کرکټ ملي لوبډلې د هند پر وړاندې لوبه کې خپل اورونه په ټاکلي وخت کې نه و بشپړ کړي و چې له امله یې مهمې نمرې له لاسه ورکړې او د سیالیو د نمرو په جدول لاندې راغله. د یادو نمرو بایلل او د نمرو په جدول کې د دغې لوبډلې لاندې راتلل د دې لامل شو چې استرالیا د لومړي پړاو ټیسټ لوبو نړیوالې اتلولۍ له پایلوبې پاتې شي.
تازه په تازه د دویم پړاو ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو په پایلوبه کې د هند او استرالیا لوبډلو په ګډه خپل اورونه په ټاکلي وخت کې بشپړ نکړی شول. د دغې لوبې په لومړۍ ورځ ۵، په دویمه ورځ ۱۵.۳، په دریمه ورځ ۱۴.۲، په څلورمه ورځ ۲.۱ او په وروستۍ ورځ ۷ اوره له ټاکلي وخته شاته پاتې شول چې له امله یې په ټوله ټیسټ لوبه کې د ۴۴ اورونو وخت ضایع شو.
له هر اړخیزو محاسبو او د اضافي وختونو د وېستلو وروسته دا په ډاګه شوه چې هندي لوبډله ۵ اورونه شاته پاتې ده، په داسې حال کې اتلې استرالیوی لوبډلې ۴ اورونو اضافه وخت نیولی دی. د کرکټ نړیوالې شورا د لوبغاړو او روزونکو د چلند کوډ دویمې مادې له ۲۲ فقرې له مخې لوبغاړي د یوه اور له شاته پاتې کېدو له امله د لوبې ۲۰ سلنه فیس جریمه کیږي. په همدې اساس د هندي لوبډلې ټول لوبغاړي، چې د ۵ اورونو وخت یې نیولی و، د لوبې ۱۰۰ سلنه فیس جریمه شول او د یادې سترې پایلوبې چې ورته ستر رقم فیس په پام کې نیول شوی و، ټول فیس ترې وګرځول شو. په داسې حال کې چې د استرالیا لوبډلې لوبغاړي د ۴ اورونو شاته پاتې کېدو له امله د لوبې ۸۰ سلنه فیس جریمه شول.
د کرکټ لوبې د لیدو لپاره د لیدونکو، خپرونکو شبکو، مالي ملاتړو او نورو ښکېلو اړخونو وخت ته په کتو، دا ډېره اړینه ده چې یوه لوبه په ټاکلي وخت کې پای ته ورسېږي. له همدې امله د کرکټ نړیواله شورا او نور اړونده ښکېل اړخونه دا هڅه کوي چې د دغې مسئلې د مخنیوي په موخه ډول ډول جریمې وضع کړي، ترڅو هم لوبې په خپل ټاکلي وخت ترسره شي او هم یې د ناوخته پای ته رسېدو یا هم د اضافي وخت د مصرفولو له امله د کوم ښکېل اړخ د نارضایتۍ سبب وګرځي.

طوریکه هموطنان عزیز و علاقه مندان بازی کرکت در جریان هستند، کار بازسازی چمن استدیوم کرکت کابل در سال جاری آغاز شد. خوانندگان عزیز را در این شماره از نشریه کرکت بورد افغانستان دعوت میکنیم تا مصاحبه با انجنیر ممتاز عمرزوی مدیر دیپارتمنت انجنیری کرکت بورد افغانستان در رابطه به کار بازسازی میدان کرکت کابل، فعالیت های دیپارتمنت مذکور در سال ۲۰۲۳ و پلان های آینده شان را خوانده باشند.

پرسش: بنا بر کدام دلایل کرکت بورد افغانستان تصمیم به بازسازی چمن میدان کرکت کابل گرفت؟

پاسخ: طوریکه به تمام ملت آشکار است، هیئت رهبری کرکت بورد افغانستان آز آنجایی تصمیم به بازسازی چمن میدان کرکت کابل گرفت که در میدان متذکره مسابقات شپگیزه و تورنمنت های بزرگ برگزار می شد، بازیکنان تیم ملی کشور در میدان متذکره بازی میکردند و همه میدانستند که چمن و سطح میدان کرکت کابل استندرد نیست، قبلا بیش از شش نوع چمن در میدان کرکت کابل کاشت شده بود که هیچ نوعی از آن چمن های کاشته شده سازگار با بازی کرکت نبود. مشکلات دیگری از قبیل سیستم آبرسانی میدان مشکلات زیادی داشت که قبلا از سیستم اسپرینکل برای آبرسانی میدان استفاده می شد که قادر به آبرسانی درست برای میدان نبود و همچنان سطح میدان را صدمه میزد. روی همرفته زمانیکه باران میشد Side edge سیستم که آب اضافی گروند از آن طریق به بیرون رفته و بازیافت شود وجود نداشت. بنا بر دلایل متذکره هیئت رهبری کرکت بورد افغانستان تصمیم گرفت تا چمن میدان کرکت کابل را بصورت استندرد بازسازی کند. باید یاد آور شد که به میدان کرکت کابل برای بازی های معیاری کرکت نیست و این میدان فقط برای بازی های تمریناتی ساخته شده که مربوط مرکز کارکرد عالی (HPC) کرکت بورد افغانستان میشود.

پرسش: الی حال حاضر، چی تغیرات ایجاد شده و کدام کارها تا هنوز باقی است؟

پاسخ: ما به حد توان و امکان موجوده تلاش نمودیم تا میدان متذکره را به صورت معیاری بازسازی کنیم، میلان استندر برای یک میدان کرکت بین ۵ الی ۷ درصد است که در چمن متذکر به دلیل کوچک بودن میدان قابل اجرا و تطبیق نبود، ولی ما باز هم تلاش نمودیم که این میلان را بین شش الی شش و نیم درصد تنظیم نمایم، میلان ۵ الی ۷ درصد در حدود (boundaries) ۸۷ متره قابل تطبیق است که میدان متذکره دارای ۷۲ متر باوندری است. در حال حاضر چمن فاین داکا در میدان کرکت کابل به صورت یک دست کاشت شده است. دوم اینکه در میدان متذکره Pope Up Irrigation System نصب شد، که با استفاده از این سیستم میدان به صورت منظم آبیاری میشود و به تمامی قسمت های میدان به صورت مساوی آب میرسد، برخلاف سیستم اسپرینکل گذشته که هم به صورت درست قادر به آبرسانی میدان نبود و هم leveling میدان را آسیب میزد، این سیستم یک تغیر مثبت در میدان کرکت کابل است. یک از مزایای سیستم جدید آبرسانی میدان این است که قبلا کود کیمیایی به صورت دستی به روی میدان پاش داده میشد اما در حال حاضر پس از نصب یک سیستم جدید، کود متذکره تبدیل به مایع و طبق نیاز به صورت مساوی به تمامی قسمت های میدان به شکل خودکار رسانیده میشود. همچنان برای خارج کردن آب اضافی میدان، مثل آب باران سیستم Side Edge به میدان متذکره اضافه شد برای این سیستم در سه نقطه میدان سیستم های جاذب نصب شده است که آب اضافی میدان از این طریق دوباره بازیافت و برای آبیاری مجدد میدان استفاده میشود.

پرسش: کار بازسازی میدان کرکت کابل سر از کدام تاریخ عملا شروع شد و در چه مدت زمان میدان متذکره دوباره قابل استفاده خواهد شد؟

پاسخ: عملا کار بازسازی میدان کرکت کابل از ۱۲ مارچ سال روان آغاز شد و الی اول جون سال روان هموار کاری میدان، کاشت چمن، نصب سیستم آبرسانی و سیستم بازیافت آب تمام شد. به دلیل ریزش باران و وضعیت آب هوا ما ۲۵ روز کاری را از دست دادیم در کل ۲ ماه کاری را وقت گرفت تا میدان متذکره دوباره بازسازی شود.

پرسش: چه تغیراتی در پیچ های میدان کرکت کابل ایجاد شده است؟

پاسخ: قبلا در میدان کرکت کابل ۴ پیچ وجود داشت اما زمانیکه که کار بازسازی چمن میدان را آغاز کردیم این پیچ ها را به شمول پیچ های اصلی و پیچ های تمریناتی به ۷ افزایش دادیم. همچنان برای پیچ های مذکور مجرا های زیر زمینی ترتیب داده شد که با استفاده از آن کیبل های تصویر و صدا برای پوشش زنده مسابقات به پیچ رسانیده میشود.

پرسش: هزینه تخمینی که برای بازسازی چمن مذکور مد نظر گرفته شده بود چقدر بود؟ و چه مقدار این پول به مصرف رسید؟

پاسخ: هزینه مجموعی هموار کاری (leveling) میدان، کاشت چمن و Side Edge System در حدود ۵.۷ ملیون افغانی بود

کار بازسازی
استدیوم کرکت کابل
و میدانهای ولایات جریان دارد

و از سوی دیگر نصب Pope Up Irrigation System در حدود ۲۵ هزار دالر امریکایی هزینه برداشت. باید یاد آور شد که طبق معمول کم کاری و اضافه کاری در هر پروژه قابل اجرا است، هزینه اولیه ۵.۷ ملیون افغانی شاید بطور کامل مصرف نشده باشد که در ختم پروژه به صورت شفاف گزارش دهی خواهد شد.

پرسش: در سال ۲۰۲۳ تا به حال کدام فعالیت های مثمر از سوی دیپارتمنت شما اجرا شده است؟

پاسخ: در سال ۲۰۲۳ دیپارتمنت ما دست آوردهای زیادی دارد، گذشته از کار بازسازی میدان کرکت کابل ما در ولایات پروژه های مثبت و مثمر زیادی را تطبیق نمودیم که اکثریت زیر کار است. همچنان مهمان خانه VIP در داخل کرکت بورد افغانستان برای مهمانان و کارمندان خارجی اعمار شده. در ولایت میتوان به کار بازسازی میدان کرکت نجیب الله ترکی اشاره کرد که میدان به صورت کامل اعمار شده بود، سیستم آب رسانی وجود داشت، ولی تشناب نداشت که ما به میدان متذکره تشناب های معیاری ساختیم. همچنان در ولایت خوست Outdoor Cricket Academy جور شد که کار های بازسازی آن تکمیل شده است فقط رشد چمن میدان مذکور دوماه وقت میگیرد که پس از آن بازیکنان میتوانند به تمرینات خویش در اکادمی مذکور ادامه بدهند. به همین ترتیب کار بازسای اکادمی بیرونی میدان کرکت کندهار در ماه دسمبر سال ۲۰۲۲ به پایان رسیده بود که بدلیل سردی هوا کاشت چمن امکان نداشت که ما در فصل بهار کار کاشت چمن را آغاز کردیم و حالا آماده استفاده است و میدان کرکت کندهار نیز به صورت معیاری هموار کاری شد. در کنار این ما در ماه رمضان کار هموار کاری میدان کرکت کندز را نیز تکمیل نمودیم.

پرسش: در رابطه به پلان های روی دست برای سال جاری (۲۰۲۳) و پلان های دراز مدت خویش به خوانندگان گرامی معلومات بدهید؟

پاسخ: پروژه های بزرگی را در سال ۲۰۲۳ روی دست داریم که یکی از آنها اعمار یک حوض آبیاری مجهز به سیستم بازیافت آب است که در روز های نزدیک پروژه مذکور به اعلان میرود. همچنان تصمیم داریم کار بازسازی میدان کرکت لغمان را آغاز کنیم که شامل هموار کاری میدان و کاشت چمن میشود. طوریکه به تمامی ملت افغانستان معلوم است؛ در چند سال اخیر ما با خشکسالی مواجه هستیم، در میدان کرکت لغمان چاه های آب وجود دارد ولی نیاز است تا یک چاه عمیق دیگر نیز در میدان کرکت لغمان حفر شود. در سال روان (۲۰۲۳) برای ولایت خوست در پلان داریم تا یک مهمان خانه معیاری برای بود و باش بازیکنان و مهمانان اعمار کنیم که یک نیاز جدی در جریان برگزاری تورنمنت ها در این ولایت میباشد.

محمد نبي

په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۳۰۰۰ منډې پوره کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې نوموتي لوبغاړي محمد نبي عيسی خېل په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۳۰۰۰ منډې بشپړې کړې. محمد نبي له بل افغان توپوهونکي رحمت شاه زرمتي وروسته دويم افغان توپوهونکی شو چې په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې ۳۰۰۰ منډې ترلاسه کوي. نوموړي تر اوسه په ۱۳۹ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې لوبېدلی او په ۱۲۴ پاڼیو کې يې توپوهنه کړې ده چې د یوې سلیزې او ۱۵ نیمه سلیزو پرمټ يې د ۲۷.۴۵ منډو په اوسط سره ۳۰۰۰ منډې بشپړې کړې.

محمد نبي د توپوهنې ترڅنګ په توپ اچونه کې هم خورا ښه ریکارډ لري او تر اوسه يې په ۱۳۴ پاڼیو کې د ۳۲.۱۸ توپ اچونې اوسط او په هر اور کې د ۴.۳۰ منډو په بدل کې (ایکانومي ریټ سره) ۱۴۷ وېکټې ترلاسه کړې دي. په دې حساب سره محمد نبي یوازېنی افغان لوبغاړی دی چې په یو ورځنیو سیالیو کې له ۳۰۰۰ زیاتې منډې او له ۱۰۰ زیاتې وېکټې لري.

افغان
Afghan Telecom
یوازینی بشپړ ملي مخابراتي شرکت

سلام
Salaam

خدمات انترنت افغان تیلی کام

- انترنت فایبر نوری
- انترنت وایمکس
- انترنت نقطه به نقطه (P2P)
- انترنت سیمدار (DSL)
- انترنت شبکه سلام (3G)

333
020 3330333
+93745 111 333
info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af

افغان
Afghan Telecom
یوازینی بشپړ ملي مخابراتي شرکت

د افغانستان کرکټ بورډ

یو شمېر روزونکو د روزنې دریمه درجه کورس وکړ

د افغانستان کرکټ بورډ د کرکټ له نړیوالې شورا سره په ګډه همکارۍ د ۱۲ افغان روزونکو ته چې له دې وړاندې یې دویمه درجه کورس پای ته رسولی و، د روزنې دریمه درجه کورس او ورکشاپ ترسره کړ چې د یوې اونۍ لپاره د متحده عربي اماراتو په ابوظبي کرکټ لوبغالي کې دوام وموند.

د دغه روزنيز ورکشاپ په ترڅ کې د کرکټ نړیوالې شورا مجربو او مسلکي ښوونکو چې له دې وړاندې یې په شاوخوا سلو ورته ورکشاپونو کې تدریس کړی، افغان روزونکو ته هم تدریس وشو. د ښوونکو په ډله کې الان کېمپبل، راس ټرنر او مدیحا کانوال شامل وو چې د یاد ورکشاپ په ترڅ کې یې ۱۲ افغان روزونکو ته تدریس وکړ.

په دغو افغان روزونکو کې نوروز منګل، حمید حسن، کریم خان صادق، نورعلي ځدراڼ، سیدالرحمن احمدزی، قیام الدین کاکړ، جاوید نوري، نظیم جار عبدالرحیمزی، ضیاءالحق عیسی خېل، شیرالله افغان او مجاهد ځدراڼ ګډون درلود.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رییس ښاغلي نصیب خان د یاد کورس پیلول د افغانستان کرکټ لپاره ښه زیری بولي او وایي چې دا د افغانستان د کرکټ لپاره لویه لاسته راوړنه ده. نوموړي زیاته کړه: ((دا د کرکټ په مسلکي برخه کې د افغان کرکټ لپاره یوه لویه لاسته راوړنه ده چې له دې وړاندې ورته سخته اړتیا لیدل کېده، له دې وروسته به موږ په دغه برخه کې هم پیاوړي یو او له دې سره به مو کرکټ لا ډېر پیاوړی شي چې د دغه کورس او ورکشاپ ګډونوال باید له یاد فرصت په ښه ډول ګټه پورته کړي.))

دغه راز د کرکټ نړیوالې شورا له لوري هم ښاغلي عمار شیخ، اقبال سکندر، امین الاسلام او ابهیشېک د یاد پروګرام د پیل په مراسمو کې ګډون درلود او د یاد کار ستاینه یې وکړه چې له شک پرته به افغان کرکټ ورسره په اړوند ډګر کې لا ډېر پرمختګ وکړي.

د یادونې وړ ده چې افغانستان کرکټ بورډ په پام کې لري چې د هېواد دننه او بهر په نږدې راتلونکي کې د روزنې د دریمه درجې او نور اړوند کورسونه او ورکشاپونه هم پیل کړي، ترڅو ورسره په اړوند ډګر کې د مسلکي روزونکو کمښت له منځه ولاړ شي.



هند غوره لیګ کې د افغان ستورو

په زړه پورې کارکردګی

د هندوستان مشهوره کرکټ غوره لیګ یا IPL چې هر کال ترسره کېږي، د هند او نړۍ پیاوړي او نامتو لوبغاړي پکې لوبه کوي، خو د تېرو شپږو کلونو راهیسې پکې بېلابېل افغان ستوري د مختلفو لوبډلو په ګټه سیالی کوي، د یادو سیالیو ۱۶م پړاو سیالی چې د هندوستان بېلابېلو ښارونو کې ترسره شوې، اتلولي یې د پنځم ځل لپاره چینای سوپر کینګز لوبډلې وګټله. په دغه لوبو کې سږ کال راشدخان او نوراحمد د ګجرات ټایټنز، فضل الحق فاروقي د سنرایزرز حیدراباد، رحمن الله ګرباز د کلکته نایټ رایډرز او نوین الحق د لکنو سوپر جینټز په ګټه سیالی ترسره کړې.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې پیاوړی لوبغاړی راشدخان او ځوان لوبغاړی نوراحمد چې د دفاعي اتلې ګجرات ټایټنز لپاره لوبډل، دواړو د خپلې لوبډلې برياو کې مهم رول ولوباوه. راشد خان د توپ اچونې په برخه کې د یوه تاریخي هټریک په ترسره کولو ۱۷ سیالیو کې ۲۷ ویکټې ترلاسه کړې او د ۳۰ منډو بدل کې یې ۴ ویکټې غوره توپ اچونه وه. خان د یاد غوره لیګ دریم مخکښ توپ اچوونکی و. نوموړي د توپوهنې په برخه کې ۱۳۰ منډې ترلاسه کړې، چې یوه سیالی کې یې ۷۹ ناسوځېدلې منډې تر ټولو غوره توپوهنه وه.

د افغان ملي لوبډلې پیلیز توپوهونکی رحمن الله ګرباز چې د لومړي افغان توپوهونکي په توګه د هند غوره لیګ سیالیو کې ولوبېده، د کلکتې لوبډلې په ګټه یې ۱۱ سیالی ترسره کړې چې له ۱۳۳.۵۲ ستراټیک ربټ سره یې ۲۲۷ منډې جوړې کړې. ګرباز ټولټال ۲ نیمه سلیزې د کلکتې په ګټه ترسره کړې ۸۱ چټکې منډې یې پکې تر ټولو زیاتې وې.

د افغانستان د ورو توپ اچونې یو بل ځوان ستوری نوراحمد لکنوال چې تازه یې د افغانستان ملي لوبډلې ته هم لاره کړې، سږ کال په لومړي ځل د هند غوره لیګ کې د راشد خان د ترڅنګ د ګجرات ټایټنز په ګټه ولوبېده. نوراحمد ټولټال ۱۳ سیالی ترسره کړې او ۱۶ لوبغاړي یې پکې د لوبې له ډګره بهر کړل. په یوه سیالی کې د نوراحمد غوره توپ اچونه د ۳۷ منډو بدل کې د ۳ ویکټو ترلاسه کول وه. په دغه لوبو کې د نور د توپ اچونې ستراټیک ربټ ۱۷.۶۸ او د منډو ایکانومي یې ۷.۸۲ وه.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې یو بل ځلانده ستوری نوین الحق سږ کال په لومړي ځل د هندوستان کرکټ غوره لیګ کې د لکنو سوپر جینټز لوبډلې لپاره سیالی ترسره کړې. نوین ټولې ۱۱

سیالی وکړې، چې ۷.۸۲ ایکانومی سره یې ۱۱ ویکټې ترلاسه کړې. نوموړي د ۳۸ منډو په ورکولو ۴ ویکټې غوره توپ اچونه کړې وه.

د افغان ملي لوبډلې ستوری چټک توپ اچوونکی فضل الحق فاروقي سږ کال د دویم ځل لپاره د سنرایزرز حیدراباد لوبډلې برخه و. نوموړي دا ځل څلورو سیالیو کې ۴ ویکټې ترلاسه کړې. فاروقي تېر کال دریو سیالیو کې ۲ ویکټې په خپل نوم کړې وې. نوموړي د هند غوره لیګ کې ټولټال ۷ سیالی ترسره کړې او ۶ لوبغاړي یې د لوبې له ډګره بهر کړي دي.

باید وویل شي چې د هندوستان کرکټ غوره لیګ کې له ۲۰۱۷م کال راهیسې تراوسه پورې ۷ افغان ستوري لوبډلي دي. په یادو لوبغاړو کې محمدنبي عیسی خېل له سنرایزرز حیدراباد، راشدخان د سنرایزرز حیدراباد او ګجرات ټایټنز، فضل الحق فاروقي د سنرایزرز حیدراباد، رحمان الله ګرباز د کلکته نایټ رایډرز، مجیب الرحمن د پنجاب کینګز، نوراحمد لکنوال د ګجرات ټایټنز او نوین الحق د لکنو سوپر جینټز لوبډلې په ګټه لوبډلي دي.

خوست کرکټ لوبغالي کې د زرغون افغانستان جام سیالیو نندارچیان

د روان کال
د مجلې لومړۍ ګڼه
او د لوستونکو لیوالتیا

د افغانستان کرکټ بورډ له یوه کال ځنډ وروسته د روان ۲۰۲۳م کال په پیل کې بیا ځلې پرېکړه وکړه چې رسنیو او مطبوعاتو څانګې اړوند، (بریا د ټولو هیله مجله) مجلې د انلاین بڼې ترڅنګ په چاپ شوې بڼه هم خپرې کړي. د دې پرېکړې له مخې د روان کال په ترڅ کې د افغانستان کرکټ بورډ د دغې مجلې درې میاشتنۍ ګڼه د اپرېل میاشتې په لومړیو کې چاپ شوه چې پکې د کال په لومړیو درې میاشتو کې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې او کورني کرکت د ټولو سیالیو او د افغانستان کرکټ بورډ د فعالیتونو په اړه پکې موضوعات خپاره شوي و.

د پاکستان پر وړاندې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د تاریخي بریا په اړه هر اړخیز معلومات په یاده مجله کې خپاره شول چې پکې د سیالیو راپور، د سیالیوکوربه توب، مالي ملاتړو، پروډکشن، رسنیز او د لوبغالي حقوقو، لوبڅارانو، د افغان مېچ ریفري، جایزو، د سیالیو عمومي جام او د افغان لوبډلې د سترې بریا اړوند نور معلومات پکې شامل ول. دغه راز د متحده عربي اماراتو کرکټ بورډ سره د یوه اوږدمهاله تړون او یاد هېواد پر وړاندې د درې شل اوریزو نړیوالو سیالیو د لوبلړۍ، د کرکټ نړیوالې شورا د راتلونکو سفرونو د پروګرام له مخې د افغانستان د سیالیو، د مېچ ریفري د دندو او صلاحیتونو او ګڼ شمېر نورو مسایلو په اړه پکې مفصل معلومات خپاره شول.

د خوست ولايت د لکڼ ولسوالۍ اړوند د فارم باغ سيمه کې د خوست سيرت خصوصي ليسې زده کوونکو سره د بريا د ټولو هيله مجله

بريا د ټولو هيله، نهم کال لومړۍ ګڼه مجله، د خوست ولايت د ځاځي ميدان ولسوالۍ د سپين ځلي سيمې اړوند په اکاکه کرکټ لوبغالي کې د کرکټ له ځوانو لوبغاړو او کوچنيانو سره

د بريا د ټولو هيلې مجلې دغه ګڼه د هېواد بېلابېلو ولايتونو ته ولېږل شوه چې د کرکټ مينه والو د لاسرسي وړ وګرځي. د زرغون افغانستان جام سياليو پرمهال د خوست ولايت کرکټ لوبغالي کې د لوبو نندارچيانو ته په ګڼ شمېر کې ووېشل شوې. دغه راز د ياد ولايت د باک، ځاځي ميدان، صبريو او لکڼ ولسواليو په بېلابېلو لېرې پرتو سيمو او ښوونځيو کې د کرکټ په مينه والو، سيمه ييزو لوبغاړو، ځوانانو او زده کوونکو ووېشل شوې چې هر لوستونکي د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د وروستيو سترو برياو او د افغانستان کرکټ بورد د وروستيو فعاليتونو په اړه د خبرېدو لپاره خورا لېوالتيا وښوده.

دغه راز د افغانستان کرکټ بورد تازه چاپ شوې مجله د کابل ولايت په بېلابېلو رسنيو او خبري اژانسونو، وزارت خونو او دولتي ادارو، عامه کتابتونونو، پوهنتونونو، ښوونځيو او ګڼ شمېر نورو تعليمي او تحصيلي مرکزونو ووېشل شوه، ترڅو په کابل ښار کې هم زيات شمېر اوسېدونکو، ځوانانو او مشرانو ته ورسېږي چې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې او ادارې له ورستيو لاسته راوړنو او فعاليتونو خبر شي.

استرالیا د دویم پړاو
ټیسټ نړیوالو سیالیو
اتلولي خپله کړه

د ټیسټ کرکټ نړیواله اتلولي (World Test Championship) د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۹م کال کې پیل شوه. دغه سیالۍ د ټیسټ کرکټ د درجه بندۍ له مخې د غوره ۹ لوبډلو ترمنځ ترسره کېږي چې ۲ کاله وخت نیسي. یادې لوبډلې په خپل کوربه توب او نورو هېوادونو ته په سفر کولو سره ټولې شپږ لوبلړۍ ترسره کوي، د یادو سیالیو په پای کې د جدول د لومړي سر دوه غوره لوبډلې د یادو سیالیو پایلوبې ته رسېږي چې ګټونکې لوبډله یې د ټیسټ کرکټ سیالیو نړیواله اتله ګڼل کېږي.

د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو جام په دوه اړخیزو ټیسټ سیالیو کې د تنوع او لا زیات خوند او رنګ پیدا کولو لپاره معرفي شوی دی. دغه جام د ټیسټ کرکټ سیالیو ته چې د سیالیو ترټولو اوږده او معتبره بڼه ده، لا زیات ارزښت ورکوي. د دې سیالیو د پیلولو بل هدف دا و چې د یو ورځنیو او شل اوریزو نړیوالو سیالیو په څېر د ټیسټ کرکټ سیالۍ هم نړیوال جام ته ورته سیالۍ ولري، چې د سیالیو په پای کې یې ګټونکې لوبډلې ته د اتلولۍ جام ورکول کېږي.

د دغو سیالیو په لومړي پړاو کې چې د ۲۰۱۹م کال د اګست میاشتې په پیل شوې، ټولې ۷۲ سیالۍ ترسره شوې او د ۲۰۲۱م کال په جون میاشت کې د نیوزیلنډ کرکټ ملي لوبډلې په بریا سره پای ته ورسېدې، چې په پایلوبه کې یې هندۍ لوبډلې ته ماتې ورکړې وه.

د دغو سیالیو په دویم پړاو کې هم ۹ لوبډلو، استرالیا، هند، انګلستان، سویلي افریقا، نیوزیلنډ، پاکستان، سریلانکا، ویسټ انډیز او بنګله دیش ګډون درلود. د یادو سیالیو په ترڅ کې هم د دوه کلونو په موده کې ۷۰ لوبې ترسره شوې چې له منځه یې هند او استرالیا لوبډلو د یادو سیالیو د دوه مخکښو لوبډلو په توګه پایلوبې ته لاره موندله. د دې سیالیو پایلوبه د روان ۲۰۲۳م کال د جون میاشتې په ۷مه نېټه د انګلستان د پلازمېنې اړوند په اوول کرکټ لوبغالي کې چې د نړۍ یو له مشهورو او تاریخي کرکټ لوبغالو څخه دی او په انګلستان کې د لومړنۍ ټیسټ لوبې د کوربه توب ویاړ لري، پیل شوه.

دغه سیالي د کرکټ نړیوالې شورا تر مدیریت لاندې ترسره شوه چې ورته خورا عالي چمتووالی نیول شوی و. د دغې سیالۍ لپاره د نورو اړونده برخو ترڅنګ د هند او استرالیا ترڅنګ د نړۍ نوموتي مبصرین ګمارل شوي و چې په دغه سیالي یې تبصره وکړه. په یادو مبصرینو کې د هند پخواني لوبغاړي لکه روي شاستري، سنیل ګواسکر، سارف ګنګولي او برحاله لوبغاړی دنېش کارتک، د استرالیا پخوانی لوبډلمشر ریکي پانټینګ، متیو هایډن، جسټن لېنګر، د انګلستان پخوانی لوبډلمشر نصیر حسین، د سریلانکا پخوانی نامتو لوبغاړی او لوبډلمشر کمار سنګاکارا او د کرکټ مخکښ مبصر هارشا بوګلې شامل وو.
دغه راز د یاد سیالۍ لپاره دواړو لوبډلو بشپړ چمتووالی نیولی و، دواړو لوبډلو له سیالۍ تقریباً یوه میاشت وړاندې خپلې اړونده لوبډلې اعلان کړې وې. هند د جسپریټ بومرا، ریشپ پنټ، کوشل لوکېش راهول او سریش اییر په څېر مهم لوبغاړي د ټپونو له امله لوبډله کې اعلان نکړل، دغه راز اسرالیا خپل تکړه چټک توپ اچوونکی جاش هېزلېووډ هم د ټپ له امله له لاسه ورکړی و.
د هند په لوبډله کې روهیت شرما لوبډلمشر، رویچندرن اشوین، سریکار بهارت، شبمن ګیل، رویندرا جدیجا، ویرات کوهلي، ایشان کیشن، چیتیشور پوجارا، اکشر پټېل، اجینکیا ریحانې، محمد شامي، محمد سراج، شردل ټاکور، جېدف اوندکت او امېش یادف شامل و. دغه راز یشاسوي جایسوال، موکیش کمار او سوریا کمار یادف د احتیاطي لوبغاړو په توګه له لوبډلې له مل و.
له بلې خوا د استرالیا په کرکټ لوبډله کې پټریک کمینس لوبډلمشر، سکاټ بولنډ، الیکس کېري، کېمرون ګرین، مارکس هېریس، ټراویس هیډ، جاش انګلس، عثمان خواجه، مارنس لبشاین، ناتن لاین، ټاډ مرفي، مایکل نیسر، سټیف سمیت، میچل سټارک او ډېویډ وارنر شامل و. د دوی ترڅنګ میچل مارش او مېټ رینشا د احتیاطي لوبغاړو د احتیاطي لوبغاړو په توګه له لوبډلې سره ملګري و.
د دغې لوبې پچه هندی لوبډلې وګټله او لومړی یې توپ اچونه غوره کړه، دغې لوبډلې که څه هم ښه پیل وکړ او په ۷۴ منډو یې د استرالیا لوبډلې د پیل درې لوبغاړي له ډګره بهر کړل خو د استرالیا د منځنۍ برخې توپوهونکو سټیف سمیت او ټراویس هیډ ډېره ښه توپوهنه وکړه، دواړو سلیزې جوړې کړې او د لومړۍ پاڼۍ په پای کې یې د استرالیا لوبډلې منډې ۴۶۹ ته ورسولې.
له هندی لوبډلې تمې ډېرې لوړې وې چې د خپل بهترینو او پیاوړو توپوهونکو پرمټ به استرالیا پر وړاندې ښه توپوهنه وکړي خو داسې ونشول، دغې لوبډلې په خپله لومړنۍ پاڼۍ کې د خپلو ټولو لوبغاړو په زیان سره یوازې ۲۹٦ منډې جوړې کړې. اجینکیا ریحانې یوازینۍ هندی توپوهونکی و چې ښه توپوهنه یې وکړه او ۸۹ منډې یې جوړې کړې. استرالیا په خپله دویمه پاڼۍ کې یو ځل بیا ډېره ښه توپوهنه وکړه او د خپلو ۸ لوبغاړو په زیان سره یې ۲۷۰ منډې جوړې کړې چې په لومړۍ پاڼۍ کې د ۱۷۳ منډو مخکېوالي پرمټ هندی لوبډلې ته د بریا لپاره د ۴۴۴ منډو هدف وټاکه. دغه هدف هندی لوبډلې بشپړ نکړ او ټوله لوبډله په ۲۳۴ منډو له ډګره بهر شوه. استرالیا لوبډلې وکولی شول چې د ۲۰۹ منډو په توپیر سره خپلې سیالې هندی لوبډلې ته ماتې ورکړي او د لومړي ځل لپاره د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو جام خپل کړي.
په دې بریا سره د استرالیا کرکټ ملي لوبډله لومړنۍ لوبډله شوه چې د کرکټ نړیوالې شورا ټول جامونه په خپل نوم کوي. دغې لوبډلې د یو ورځنیو سیالیو نړیوال جام، د شل اوریزو سیالیو نړیوال جام، چېمپینز ټرافي او دا دی د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو جام هم په خپل نوم کړ. له بلې خوا بیا هندی لوبډله د دویم پرلپسې ځل لپاره د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو په پایلوبه کې له ماتې سره مخ شوه. دغې لوبډلې له دې وړاندې د یادو سیالیو د لومړي پړاو په پایلوبه کې له نیوزیلنډ لوبډلې ماتې منلې وه.
په ټوله کې د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو په پیلولو سره ټیسټ کرکټ ځانګړی رنګ او خوند موندلی، لیدونکي یې زیات شوي او رسنیز حقوق یې په خورا لوړه بیه خرڅېږي له امله یې اوسمهال ټول اړوند بورډونه هڅه کوي چې زیات نه زیاتې ټیسټ لوبې خپلو لوبډلو ته برابرې کړي. د ټیسټ کرکټ د ژوندي ساتلو او ورته د نوي رنګ او جذابیت ورکولو په برخه کې د کرکټ نړیوالې شورا هڅې کلیدي رول لري. د ټیسټ کرکټ د نړیوالو اتلولیو له هر اړخیزې کامیابۍ وروسته ښایي دغه سیالیو ته لا زیاته پراختیا ورکړل شي او په راتلونکي کې په لا زیاته ښه ترسره شي.
د یادونې وړ ده چې د ټیسټ کرکټ د نړیوالو اتلولیو دریم پړاو هم پیل شوی چې استرالیا کرکټ ملي لوبډله به پکې د انګلستان په سفر د خورا نوموتو او مهمو ایشیز سیالیو په ترخ کې ۵ ټیسټ سیالۍ ترسره کړي. دریم پړاو ورلډ ټیسټ چېمپینشپ سیالیو کې هم ۹ لوبډلې لوبېږي چې د دوه کلونو په ترخ کې به یې ترمنځه ٦٨ لوبې ترسره شي او د دوه مخکښو لوبډلو ترمنځ به یې پایلوبه په ۲۰۲۵م کال کې د انګلستان په تاریخي لارډز کرکټ لوبغالي کې چې د کرکټ کور هم بلل کېږي، ترسره شي.

ولې هر ځل د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو پایلوبه په انګلستان کې ترسره کېږي؟

له شکه پرته د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو پایلوبه د کرکټ په نړۍ په خورا غټ او مهم ایونټ بدله شوې ده چې خورا لوی نوم او ګڼ شمېر مینه وال یې موندلي دي. په پایلوبه کې د کرکټ د نړۍ دوه بهترینې لوبډلې د یو بل پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته کېږي چې د ټیسټ کرکټ ښکلا او جذابیت پکې له ورایه ښکاري.
خو یوه پوښتنه چې ډېری وخت د کرکټ مینه والو سره وي، دا ده چې ولې دغه ستره پایلوبه هر ځل په انګلستان کې ترسره کېږي؟ په دې اړه که څه هم د کرکټ نړیوالې شورا په رسمي توګه څه ندي ویلي خو موږ په دې لیکنه کې هغه لاملونه را ټول کړي دي چې له امله یې دغه ستره سیالي د دویم پرلپسې ځل لپاره په انګلستان کې ترسره شوه او د دریم ځل لپاره هم په یاد هېواد کې پلان شوې ده، چې په ۲۰۲۵م کال کې به ترسره شي.

په انګلستان کې د ټیسټ کرکټ پراخه او اوږده مخینه:

په انګلستان کې د ټیسټ کرکټ د پایلوبو ترسره کولو یو ستر فکتور په انګلستان کې د ټیسټ کرکټ سیالیو پراخه مخینه، غني میراث او تاریخي اهمیت دی. انګلستان د ټیسټ کرکټ کور او د پیدایښت یا مروج کېدو مرکز بلل کېږي، همدې اصل ته د درناوي په موخه دغه سیالي په انګلستان کې ترسره کېږي.

بهترینه هوا:

د انګلستان د هوا حالات بل مهم فکتور دی چې له امله یې دغه ستره پایلوبه په انګلستان کې ترسره کېږي. اوړی په انګلستان کې د ټیسټ کرکټ سیالیو لپاره ترټولو مناسب وخت ګڼل کېږي.
د انګلستان پیچونه په ټیسټ کرکټ سیالیو کې د غوره توپ اچونې او توپوهنې په برخه کې په نړیواله کچه خورا ښه نوم لري چې له امله یې په یاد هېواد کې ټیسټ سیالۍ ډېرې جالبه وي. بله دا چې په یاد هېواد کې د نورو هېوادونو په پرتله د هوا د حالاتو اټکل دقیق کېږي چې پرمټ یې د ورښتونو له امله د سیالیو د اغېزمنېدو خطر کمېږي او په لوړ احتمال سره پکې بشپړه سیالي ترسره کېږي. دا په داسې حال کې ده چې په ګڼ شمېر نورو هېوادونو کې د ورښتونو د منظم اټکل د نه کېدو له امله ډېرې مهمې سیالۍ اغېزمنې شوې یا هم بې پایلې پای ته رسېدلې دي.

سیمه ییز وخت یا د وخت توپیر:

د انګلستان سیمه ایيز وخت او نورو هېوادونو سره یې د وخت توپیر هغه بل لامل دی چې له مخې یې انګلستان کې دغه سیالي ترسره کېږي. په دغسې سترو سیالیو کې د رسنیز حقوق، په ژوندۍ بڼه د سیالیو خپرول او لیدونکي مهم اړخونه شمېرل کېږي چې باید ټولو ته پام وشي. په انګلستان کې د ټیسټ کرکټ سیالیو د پیلېدو وخت په اسیایي هېوادونو کې چې د کرکټ ډېر شمېر لیدونکي لري، ترټولو مناسب وخت ګڼل کېږي چې ډېر شمېر لیدونکي کولی شي دغه سیالي په ژوندۍ بڼه ننداره کړي. د ټیسټ کرکټ لپاره له پورته ذکر شویو کرکټ پالو هېوادونو سره د انګلستان د وخت توپیر په نړیواله کچه د ډېرو لیدونکو او سوداګریز ارزښت په تضمینولو کې ستر رول لري. دا هم یو له هغو لاملونو شمېرل کېږي چې یې له مخې د کوربه هېواد په توګه د انګلستان د ټاکل کېدو چانس زیاتوي.

بنسټیزې او زیربنایي اسانتیاوې:

په انګلستان کې د غوره زیربنایي اسانتیاوو او پراخو سرچینو شتون یو بل لامل دی چې د ټیسټ کرکټ نړیوالو اتلولیو پایلوبه په دغه هېواد کې ترسره کېږي. په دغه هېواد کې د کرکټ بهترین لوبغالي شتون لري، ترڅنګ یې هوټلونه، ټرانسپورټ او نور اړوند لوجستیکي خدمات په خورا لوړه کچه وړاندې کېږي چې له امله یې یاد هېواد د داسې سترې پایلوبې په څېر د نورو مهمو او معتبرو سیالیو د کوربه توب لپاره له هره اړخه په مناسب ځای بدلېږي. د سیالیو په تنظیم او مدیریت کې د انګلستان کرکټ بورډ تخصص او پراخه تجربه او له کرکټ نړیوالې شورا سره یې غوره اړیکې نور هغه فکتورونه دي چې پر مټ یې د دغو سیالیو د کوربه توب لپاره د انګلستان موقف نور هم پیاوړی کېږي.

د کرکټ هغه ریکارډونه

چې ماتول یې ښایي ډېر وخت ونیسي

کرکټ په نړۍ کې دویمه مخکښه لوبه ده چې میلیونونه مینهوال لري. د دې لوبې مینه وال په ټولو لویو وچو کې شته او ورځ تر بلې د پراختیا په لوري روانه ده. د کرکټ نړیواله شورا اوسمهال ۱۰۳ غړي هېوادونه لري او کېدای شي په راتلونکو څو کلونو کې د فوټبال سیاله لوبه شي. د کرکټ له پیله ځینې ریکارډونه جوړ شوي، ځینو لوبغاړو د نورو ریکارډونه مات کړي او ځینې نور ریکارډونه له کلونو کلونو راهیسې لا هم ژوندي پاتي دي. د دې ریکارډونو ماتول ناشوني نه دي او ښایي ماتېدل یې ډېر وخت ونیسي؛ خو بیا هم په کرکټ کې هر څه شوني دي. د کرکټ مینه وال هم جلا جلا دي، ځینې په ورځو ورځو ټېسټ لوبو ته ناست وي، ځینې بیا یو ورځنۍ او ځینې بیا شل اوریزې لوبې خوښوي. تر کله چې کرکټ کېږي، تر هغه وخته به ریکارډونه جوړېږي او ځینې رکارډونه به تر ډېره وخته پاتې وي او ځینې به ماتېږي. په دې لیکنه کې موږ یوازې په نړیوالو لوبو کې په جوړو شویو ریکارډونو بحث نه کوو، بلکې سوداګریزې او کورنۍ لوبې هم پکې را اخلو.

۱: له منډې پرته سوپر اور تر سره کول:

باور به مو نه کېږي؛ خو دا ربښتیا دي. په سوپر کې اور کې له توپ اچوونکي ډېرې منډې اخیستل کېږي. حتٰی په سوپر اور کې د توپ ډاټ کول هم ستونزمن وي. په ۲۰۱۴ز کال کې د ویسټ انډیز په کرابین غوره لیګ سیالیو کې سونیل ناراین لومړنی توپ اچوونکی شو چې سوپر اور پرته له کومې منډې ورکولو ترسره کړي. دغه لوبه د ریډ سټیل او ګیانا امازون واریرز ترمنځ وه. دواړو لوبډلو ۱۱۸/۹ او ۱۱۸/۸ منډې تر سره کړې او خبره سوپر اور ته ورسېده. خو د ویسټ انډیز لوبډلې ورو توپ اچوونکي سونیل ناراین مېډن اور تر سره کړ. کېدای شي داسې حالت بیا رانه شي او نه به بیا تکرار شي چې یو توپ اچوونکی دې سوپر اور پرته له کومې منډې وکړي.

۲: د ټېسټ په یوه لوبه کې ۱۹ وېکټې اخیستل

د انګلستان توپ اچوونکي جېمز لېکر په ۱۹۵٦م زیږدیز کال کې د اسټرالیا پر وړاندې لوبه کې ۱۹ وېکټې واخیستې. نوموړي په ٦٨ اورونو کې یوازې ۹۰ منډې ورکړې وې. لېکر په یوه پاڼۍ کې لس او په بله کې یې ۹ وېکټې واخیستې. د دې رېکارډ ٦٧ کلونه تېر شول؛ خو تر اوسه مات نه شو. له نوموړي وروسته هندي نریندرا دیپچاند هیرواني په ۱۹۸۸م زیږدیز کال کې د ویسټ انډیز پر وړاندې او د سریلانکا موتایا مورالیدرن په ۱۹۹۸م زیږدیز کال کې د انګلستان پر وړاندې ١٦ وېکټې واخیستې خو د لېکر ریکارډ یې مات نکړ.

۳: ۲۰۰ ټېست لوبې

ځوان لوبغاړي تل هڅه کوي چې د کرکټ په لنډ فارمټ کې خپله وړتیا وښيي. دوی زیات د دې لپاره هم لنډ فارمټونه خوښوي چې په سوداګریزو لیګونو کې ولوبېږي او ډېرې پیسې وګټي. ډېری لوبغاړي د همدغه سوداګریزو لیګونو لپاره فرسټ کلاس او لېسټ اې لوبې هم نه کوي او ټول پام یې شل اوریزو لوبو ته وي. تاسې چې کله د ټېسټ لوبې نوم اورئ، کېدای شي ستاسې ذهن ته د کرکټ افسانوي لوبغاړی سچن ټنډولکر راشي. نوموړي په خپل ۲۴ کلن لوبیز ژوند کې ۲۰۰ ټېسټ لوبې وکړې او تر اوسه کوم بل لوبغاړي په دومره شمېر کې ټېسټ لوبې نه دي کړې. د اسټرالیا پخواني لوبډلمشر ریکي پونټینګ ١٦٨ ټېسټ لوبې وکړې؛ خو د ټنډولکر رېکارډ ته ونه رسېد.

۴: ۱۳۴۷ نړیوالې وېکټې

د سرېلانکا پخواني توپ اچوونکي موتایا مورالیدرن په خپل لوبیز ژوند کې له زرو پورته وېکټې اخیستې دي. دا به تر ډېره رېکارډ پاتې وي، چې یو لوبغاړی دې په دومره شمېر کې وېکټې واخلي. مورالیدرن په ۱۳۳ ټېسټ لوبو کې ۸۰۰، په ۳۵۰ یو ورځنیو نړیوالو لوبو کې ۵۳۴ او په ۱۲ شل اوریزو نړیوالو لوبو کې یې ۱۳ وېکټې اخیستې دي. که څه هم په نړیوال کرکټ کې د اسټرالیا پخواني توپ اچوونکي شېن وان ۱۰۰۱ نړیوالې وېکټې واخیستې، خو د مورالیدرن رېکارډ ته ونه رسېد.

۵: د ټېسټ کریر د توپوهنې تر ټولو لوړ اوسط ۹۹.۹۴

د استرالیا پخواني افسانوي لوبغاړي ډان براډمن په ټېسټ لوبو کې د منډو تر ټولو لوړ اوسط لري. نوموړي په ۵۲ لوبو کې ۶۹۹۶ منډې جوړې کړې وې، چې ۲۹ سلیزې او ۱۳ نیمه سلیزې یې وهلې وې. براډمن د ۱۹۲۸ او ۱۹۴۸ کلونو ترمنځ کرکټ وکړ، خو ریکارډ یې په تېرو اوه لسیزو کې هم چا مات نه کړ. براډمن په ۱۹۳۱ز کال په ټېسټ کرکټ کې په ۱۸ دقیقو کې سلیزه ووهله او دغه ریکارډ یې هم تر اوسه په خپل نوم دی. همدارنګه براډمن په فرسټ کلاس سیالیو کې ۱۱۷ سلیزې لري، چې په یوه پانۍ کې یې تر ټولو ډېرې ۴۵۲ ناسوځېدلې منډې دي.

۶: په فرسټ کلاس سیالیو کې ۱۹۹ سلیزې

په فرسټ کلاس سیالیو کې ۱۹۹ سلیزې؟ هو، دا نه سچن ټنډولکر وهلې او نه کوم بل لوبغاړي، بلکې دا د انګلستان پیلیز توپووهونکي جان هوبز وهلې دي. هوبز د انګلستان لپاره په نړیوالو ټېسټ لوبو کې هم ۱۸ سلیزې وهلې دي. کېدای شي دغه ریکارډ هم تر ډېره پاتې شي.

۷: په فرسټ کلاس لوبو کې ډېرې وېکټې

په نړیوال کرکټ کې تر ټولو ډېرې وېکټې سربلانکایي لوبغاړي موتایا موراليدرن اخیستې دي؛ خو په فرسټ کلاس سیالیو کې بیا د انګلستان لوبغاړي ویلفرډ روهډز ۴۲۰۴ وېکټې اخیستې دي. روهډز په خپل ۳۰ کلن لوبیز ژوند کې داسې ریکارډ جوړ کړ، چې ماتول یې نه یوازې سخت، بلکې ناشونې هم دي. نوموړي په ۱۱۱۰ فرسټ کلاس سیالیو کې لوبېدلی دی چې پکې یې ۳۹۹۶۹ منډې هم جوړې کړې دي.

۸: په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې درې غبرګې سلیزې!

د هندوستان پیلیز توپوهونکي روهېت شرما په یو ورځنیو لوبو کې درې غبرګې سلیزې وهلې دي او دغه ریکارډ یې تر اوسه په خپل نوم ساتلی دی. دا ریکارډ یا کارنامه نه تر اوسه تکرار شوې وه، نه مات شوی او داسې انګېرل کېږي چې ښایي په سختۍ به مات شي. روهېت تر اوسه نړیوال کرکټ کوي او تمه شته چې بیا به هم د کومې لوبډلې پر وړاندې غبرګه سلیزه ووهي. روهېت همدارنګه په نړیوال شل اوریز کرکټ کې هم څلور سلیزې وهلې دي، چې تر اوسه ریکارډ دی.

۹: د نړیوال جام ګټلو هیټریک

استرالیا په نړۍ کې یوازېنۍ لوبډله ده، چې درې ځلې په پرلهپسې توګه یې د یو ورځنیوسیالیو نړیوال جام ګټلی دی. دغې لوبډلې په ۱۹۹۹، ۲۰۰۳ او ۲۰۰۷ کلونو کې په پرلهپسې توګه نړیوال جام وګاټه. یو ځل یې د سټیو وا او دوه ځلې یې د ریکي پونټینګ په لوبډلمشرۍ نړیوال جام په خپل نوم کړ. ریکي پونټینګ په درې واړو نړیوالو جامونو په پایلوبو کې له ۵۰ زیاتې منډې هم جوړې کړې وې، چې دا ریکارډ یې هم په خپل نوم کړ. دا ریکارډ به سخته وي چې مات شي؛ ځکه د یوې لوبډلې لپاره سخته ده چې پرلهپسې توګه درې ځلې نړیوال جام وګټي؛ خو ناشونې به نه وي.



۱۰: په پنځوس کلنۍ کې لوبډلمشري

یوازېنی کرکټر چې په ۵۰ کلنۍ کې یې هم د لوبډلمشرۍ دنده تر سره کړې، هغه د انګلستان لوبډلمشر ډاکټر ویلیم ګیلبرټ ګربس و. نوموړي په ۱۸۹۹ز کال کې د استرالیا پر وړاندې خپله وروستۍ ټېسټ لوبه په پنځوس کلنۍ وکړه او د لوبډلمشرۍ دنده یې ارچي مک ته وسپارله.

یادونه: ریکارډونه یا کارنامې د ماتولو لپاره جوړېږي؛ پورته ذکر شوي ریکارډونه داسې نه دي چې هېڅکله به مات نشي، ممکن مات شي خو خو ښایي ډېر وخت ونیسي.

هیواد ساتونکو

د رحمت ولي مسرور ایمرجېنګ سیالیو اتلولي خپله کړه

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې له لوري د رحمت ولي مسرور ایمرجېنګ جام سیالۍ په لومړي ځل ترسره شوې چې اتلولي یې هېواد ساتونکي لوبډلې وګټله. دغه سیالۍ چې کندهار یې کوربه و؛ هېواد ساتونکي، ماهیپر ستوري، اباسین ځوانان او ځوان اتلان لوبډلو پکې ګډون درلود او هرې لوبډلې له یو بل سره دوه-دوه ځله سیالۍ ترسره کړې.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې په خبره چې یادې سیالۍ یې د راتلونکې اسیا ایمرجېنګ جام سیالیو ته د لوبډلې د جوړېدو په موخه ترسره کړې، خو له دې وروسته به یادې سیالۍ هر کال ترسره کېږي. باید ووېل شي چې تر ۲۳ کلنو د کم عمر لرونکو یا ایمرجېنګ اسیا جام سیالۍ د روان کال جولای میاشتې په وروستیو کې د سریلانکا په کوربه توب پیلیږي.

د رحمت ولي مسرور ایمرجېنګ جام سیالۍ د روان کال مې میاشتې له ٦مې پیل او د همدې میاشتې پر ۲۰مه نېټه د هېواد ساتونکي لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. د یادو سیالیو په ترخ کې ځوان اتلان لوبډلې د پنځه او هېواد ساتونکي لوبډلې د څلور لوبو په ګټلو سره پایلوبې ته لاره موندله. په پایلوبه کې ځوان اتلان لوبډلې لومړی د ۱۴۱ منډو هدف وټاکه او ورپسې هېواد ساتونکي لوبډلې د څلورو ویکټو په تاوان سره یاد هدف ترلاسه کړ او د ایمرجېنګ جام اتلولي یې خپله کړه.

په دغه سیالیو کې ټولټال ۱۲ لوبې ترسره شوې چې په لړ کې یې هېواد ساتونکو د ذهیب زمانخېل او ځوان اتلانو د الله نور ناصري په مشرۍ ۵-۵ سیالۍ، اباسین ځوانانود رحمن الله ځدراڼ په مشرۍ ۳ او ماهیپر ستورو د ذبید اکبري په مشرۍ کې هیڅ کومه لوبه ونه ګټله.

د یادو سیالیو د غوره توپوهونکو په ډله کې د ماهیپر ستوري لوبډلمشر ذبید اکبري تر ټولو زیاتې ۲۲٦، محمد اسحاق رحیمي ۲۰۷، الله نور ناصري ۱۹۵، اصغر اتل ۱۹۳، نوید عبید ۱۹۱، یوسف شاه ۱۹۰ او مسعود ګربز ۱۷۲ منډې ترسره کړې. بلخوا د

توپ اچونې په برخه کې ذهیب زمانخېل ۱٦، اظهارالحق نوید ۱٦، محمدالله لوګري ۱۳، بلال سمیع ۱۳، فیصل خان ۱۱، نوید ځدراڼ ۱۰، شمس الرحمن ۱۰ او شفیق الله غفاري ۹ ویکټې ترلاسه کړې.

د غوره لوبغاړو د جایزو په لړ کې د هېواد ساتونکي لوبډلې لوبغاړي عابد محمدي پایلوبه کې د غوره لوبغاړي، د ماهیپر ستوري لوبډلمشر ذبید اکبري د ایمرجېنګ جام د غوره لوبغاړي، د ځوان اتلان لوبغاړي اسحاق رحیمي د غوره توپوهونکي، د هېواد ساتونکي لوبډلمشر ذهیب زمانخېل د غوره توپ اچونکي او د ځوان اتلان لوبغاړي اظهارالحق نوید د غوره الراونډر جایزې په خپل نوم کړې.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان کرکټ بورډ له لوري هر کال د کورني کرکټ په چوکاټ کې، د وزیر محمد اکبر خان دویمه او لومړۍ درجه، میرویس نیکه درې ورځنۍ، رحمت ولي مسرور ایمرجېنګ، غازي امان الله خان لیسټ اې، احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس، شپږیزه کرکټ لیګ او زرغون افغانستان جام لوبې هر کال په منظم ډول ترسره کوي، چې موخه یې د غوره لوبغاړو موندنه او د شته لوبغاړو پیاوړتیا او بوختیا په ګوته شوې ده.

د افغان کرکټ له ځوان لوبغاړي اظهارالحق نوید سره مرکه

بریا د ټولو هیله مجلې درنو لوستونکو ستړي مه شئ، هیله ده جوړ او روغ اوسئ. بریا د ټولو هیله مجلې د مرکې برخه مو دا ځلې د افغان کرکټ ځوان ستوري لوبغاړي ته ځانګړې او غواړو څو د نوموړي له ژوند او کرکټ څخه مو خبر کړو. اظهارالق نوید هغه ځوان دی چې په خورا کم وخت کې یې د نړۍ تر سترو لیګونو لکه بیګ باش، کارابین غوره لیګ او... ځان ورساوه. اظهار الحق تازه د افغانستان ملي لوبډلې ټیسټ او یو ورځنیو سیالیو ته لاره کړې او تر راتلونکي نړیوال جام پورې به د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د یو ورځنیو سیالیو برخه وي. د نوموړي په اړه ډېر څه په لاندې مرکه کې راسره ولولئ!

لومړۍ پوښتنه: نوید ښه راغلاست درته وایو، لومړی که بریا د ټولو هیله مجلې مینه والو ته ځان وروپېژنې؟
ځواب: تر هرڅه وړاندې تاسو ته او بریا د ټولو هیله مجلې درنو لوستونکو ته خپل سلامونه او نېکې هیلې وړاندې کوم. ډېره مننه چې موږ ته مو د مرکې لپاره وخت راکړ. پوره نوم مې اظهارالحق نوید دی، په ۲۰۰۳م کال کې د لغمان ولایت په لمتي سهاک کلي کې زېږېدلی یم او اوسمهال په کابل ولایت کې ژوند کوم.

دویمه پوښتنه: که چېرې د خپلو زده کړو په اړه راته وغږېږئ؟
ځواب: زده کړه د یو انسان لپاره تر هرڅه لومړۍ او مهمه ده. ما الحمدلله خپلې زده کړې تر ۱۲م ټولګي پورې کړې دي، غواړم د خیره سره په اقتصاد پوهنځي کې لېسانس واخلم او دا مې یوه لویه هیله ده خو بدختانه اوس کرکټ کې دومره بوخت یم چې بیخي خلاصی نشته.

دریمه پوښتنه: د کرکټ پیل مو څنګه وکړ کله او له څه اغېزمن شوې چې بلاخره تر ملي لوبډلې ورسېدې؟
ځواب: زما یادېږي کشر وم کله چې د افغانستان ملي لوبډلې په لومړي ځل پنځوس اوریز نړیوال جام کې لوبېده، هغه سیالۍ ټولو ته ځکه په زړه پورې وې چې په لومړي ځل مو دومره سترې سیالیو کې ګډون درلوده. افغان ملي لوبډلې چې کله پکې سکاټلېنډ ته په خورا یوه حساسه لوبه کې ماتې ورکړه، یقیني دا یوه په زړه پورې او اغېزمنوونکې بریا وه. زه فکر کوم چې دا له کرکټ څخه زما د اغېزمنتیا او هڅونې لومړۍ شېبه وه.

څلورمه پوښتنه: د ورو توپ اچوونکي په توګه چې کله هم د پیاوړو توپوهونکو سره مخ کېږې، نو ځان بچ کول سخت وي څنګه ځان ژغورې څو د دوی پر وړاندې بریالی شې؟
ځواب: ولا کرکټ کې د یو توپ اچوونکي په توګه بیا چې کله ورو توپ اچونه کوې نو ځان ژغورل پکې ډېر سخت دی، په ځانګړې توګه کله چې سترو لوبو کې د خورا نامتو او پیاوړو لوبغاړو سره مخ کېږې، خو زه د دې لپاره چې د لوبې فشار کنټرول کړم نو په یوه شي تر ټولو ډېر تمرکز کوم او هغه په لین او لینت سره توپ اچونه کول دي. فکر کوم دا به مې د بریا تر ټولو ښه راز وي ځکه چې کله مې هم په لین او لینت سره توپ اچونه کړې نو توپوهونکی خپله اړ شوی چې ما باندې تېروتنه وکړي او خپله ویکټ له لاسه ورکړي.

پنځمه پوښتنه: بهرنیو لیګونو کې د لوبېدو سره دې د توپ اچونې په برخه کې څومره پرمختګ راغلی دی؟
ځواب: کرکټ داسې یوه لوبه ده هرڅومره چې ته لوبیږې هغومره پیاوړی کېږې، په ځانګړې ډول کله چې له لویو لوبغاړو سره مخ یې یا دې تر څنګ وي. په نړیوالو لیګونو کې تر ټولو لویه او ښه ګټه داده چې ته څنګه کولی شې چې لویو سیالیو کې د لوبې فشار کابو کړې او پر خپل ځان برلاسی واوسې او بله خبره دا ده چې هلته بېلابېل او نامتو روزونکي وي ورسره ډېر نامتو لوبغاړي وي نو له هغوی څخه تجربه ترلاسه کول او یا چې روزونکي درسره پر مثتبو او منفي ټکو کار کوي، طبعي ده سړي کې لوی او مثبت بدلون راځي.

شپږمه پوښتنه: هر لوبغاړی ځان ته یو ایډیال لري داسې څوک چې د هغه لوبه ډېره تعقیبوې، تاسو کوم لوبغاړی ډېر خاری چې زیات مو خوښیږي؟
ځواب: هو دا خبره رښتیا ده هر هغه څوک چې کرکټ سره کله هم مینه پیدا شي نو یو لوبغاړی هرومرو داسې وي چې نوموړی ورڅخه ډېر متاثره وي او هروخت یې څاري، زه خپله لیګ بریکر یم او زما ایډیال هغه څوک دی چې د نړۍ یو بې مثاله لوبغاړی دی، یعنې راشدخان.
نه یوازې دا چې راشدخان څارم بلکې کوښښ کوم ډېر څه ځینې زده کړم خصوصاً کله چې ورسره کمپ یا لوبو کې یو ځای واوسم. باید ووایم چې د خپل فزیکي تکړښت په برخه کې غواړم د ویرات کوهلي په څېر واوسم هغه ډېر چوست او ښه وجود لري.

اوومه پوښتنه: نویده ستاسو په نظر یو ځوان باید څه وکړي چې تاسو غوندې تر ملي لوبډلو ولاړ شي؟
ځواب: که وګورو په افغانستان کې اوس استعدادونه بیخي زیات دي او بیا په دې منځ تر ملي لوبډلو د رسېدو لپاره مبارزه کول او ځان رسول ډېر سخت دي. فکر کوم نه ماتېدونکې اراده او همت او د خپلو هیلو د رښتیا کولو لپاره په دوامداره توګه زیار او زحمت ایستل دي. که هرڅومره کوښښ او خواري کوو، هغومره تر خپلو موخو نږدې کېږو.

اتمه پوښتنه: یو ورو توپ اچوونکی باید کومې لارې چارې عملي کړي، ت څو تاسو غوندې بریالی شي؟
ځواب: د ورو توپ اچوونکي د بریالي کېدو او ځلېدو لپاره به ډېر داسې څه وي چې مهم او لازمي وي، خو زه فکر کوم تر ټولو لومړی باید د دوی فټنس (فزیکي تکړښت) برابر وي، پر فټنس باندې کار کول او هغه جوړول اسانه کار نه دی. دویم قدم کې ښه ویشتل یا ټارګیټ بالېنګ ترسره کول مهم اصل دی که ورو توپ اچوونکی غواړي ښه وځلیږي نو باید ښه ویشتنه یې پخه وي یانې کوم وخت چې کوم ځای ویشتل غواړي نو باید ځینې خطا نشي. دریم ټکی دا چې باید د لوی زړه خاوند و اوسي ځینې وختونه داسې راځي چې ډېرې منډې ورباندې جوړیږي، خو دده زړه باید لوی وي او هیڅ تر فشار لاندې رانشي.

نهمه پوښتنه: د کرکټ څخه ورهاخوا په کومو کارونو بوخت یې او څه سره مو مینه ده؟
ځواب: نه ما چې له کومې ورځې ښوونځی ختم کړی او کرکټ ته مې مخه کړې له هغې ورځې تراوسه مې یوازې فکر پر دې دی چې څنګه کولی شم ښه وځلېږم، خپلو خلکو ته خوشالي ورکړم او د خپل هېواد لپاره ویاړونه راوړم.

لسمه پوښتنه: که په پای کې (بریا د ټولو هیله) مجلې لوستونکو ته کوم پیغام لرې نو مهرباني؟
ځواب: پیغامونه خو ولا زیات دي، خو زه به همدې خپله برخه کرکټ کې یو څه ووایم ځکه افغانستان کې اوس کرکټ ته بې شمېره ځوانانو او ماشومانو مخه کړې ده. که څوک غواړي چې یو ښه او نړیوال کرکټر جوړ شي نو خپلو زحمتونو او خواریو ته دې دوام ورکړي هیڅلکه دې نه پر شا کېږي یوه داسې ورځ حتمي راتلونکې ده چې الله ج ستاسو هیلې او ارمانونه په رښتیا بدل کړي.
مننه!

مس عینک زون

د زونونو په کچه

د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو اتلولي خپله کړه

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د روان ۲۰۲۳م کال د کلني پلان له مخې د زونونو په کچه د میرویس نیکه جام درې ورځنۍ سیالۍ چې د مې میاشتې په ۲۸مه نېټه د ننګرهار ولایت په دوه کرکټ لوبغالو کې پیل شوې وې، د جون میاشتې په ۲۰مه نېټه د مس عینک زون په اتلولۍ پای ته ورسېدې.

دا د یادو سیالیو دریم پړاو و چې د ننګرهار ولایت په دوه کرکټ لوبغالو، غازي امان الله خان او نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالو کې ترسره شوې. په دغو سیالیو کې د مس عینک، امو، بست، بند امیر او سپین غر زونونو اړوند لوبډلو ګډون درلود. هرې لوبډلې په خپل لومړي پړاو کې ۴ لوبې وکړې چې له منځه یې د مس عینک زون لوبډله په ۵۴ او د امو زون لوبډله په ۴۱ نمرو د دوه مخکښو لوبډلو په توګه د یادو سیالیو پایلوبې ته لاره ومونده چې د جون میاشتې په ۱۷مه نېټه د جلال اباد ښار اړوند په نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي کې پیل شوه. د مس عینک زون لوبډلې په دغه پایلوبه کې له یوې هر اړخیزې لوبې وروسته د امو زون لوبډلې ته د ۱۹۱ منډو په توپیر ماتې ورکړه او د دویم ځل لپاره یې د یادو سیالیو اتلولي خپله کړه.

د پایلوبې لپاره څلور ورځې ځانګړې شوې وې چې پکې د مس عینک زون لوبډلې د لوبې پچه وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه. دغې لوبډلې په خپله لومړۍ پاڼۍ کې د عبدالله ځدراڼ (۹۳)، خالد زاهدي (٦٨) او رفیع الله صادق (٦٦) د نیمه سلیزو او برکت الله ابراهیمزي د ۴۲ منډو پر مټ ۳۳۵ منډې جوړې کړې. له بلې خوا د امو لوبډلې لپاره په توپ اچونه کې عظیم ځدراڼ ۵، کامل کاکړ او خیر محمد هر یوه ۲-۲ ویکټې ترلاسه کړې.

د مس عینک زون د ۳۳۵ منډو په ځواب کې د امو زون لوبډلې په خپله لومړۍ پاڼۍ کې د عبدالهادي (۸۳) او محمد شهزاد (۸۰) د نیمه سلیزو پرمټ د خپلو ټولو لوبغاړو په زیان سره ۲۵۵ منډې جوړې کړې او له مس عینک زون لوبډلې د ۸۰ په توپیر شاته پاتې شوه. د مس عینک لوبډلې په توپ اچوونکو کې خلیل ګربز ٦ او رفیع الله صادق ۳ لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړل.

مس عینک لوبډلې په خپله دویمه پاڼۍ کې ۲٦۴ منډې جوړې کړې او په لومړۍ پاڼۍ کې د ۸۰ منډو د مخکښوالي پرمټ یې د امو زون لوبډلې ته د ۳۴۵ منډو هدف وټاکه. برکت الله ابراهیمزي په دویمه پاڼۍ کې د مس عینک لوبډلې په ګټه بهترینه توپوهنه

وکړه او ۱۴۸ ناسوځېدلې منډې یې جوړې کړې. د امو لوبډلې په ګټه کامل کاکړ ۳، عظیم ځدراڼ او خیر محمد هر یوه ۲-۲ ویکټې واخیستې.

امو زون په خپله دویمه پاڼۍ کې هم ښه توپوهنه ونکړی شوه او ټوله لوبډله په ۱۵۳ منډو له ډګره بهر شوه او په دې ترتیب سره یې د ۱۹۱ منډو په توپیر ماتې ومنله. برکت الله ابراهیمزی، چې په دغه لوبه کې یې په ترتیب سره ۴۲ او ۱۴۸* منډې جوړې کړې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. نوموړي دغه راز د یادو سیالیو په ۹ پاڼیو کې د ۹۸.۲۰ منډو په اوسط سره د ۲ سلیزو او یوې نیمه سلیزې پرمټ ۴۹۱ منډې جوړې کړې چې پرمټ یې د یادو سیالیو ترټولو غوره توپوهونکی هم ونومول شو.

دغه راز د امو زون لیګ بریک توپ اچوونکی خیر محمد د یادو سیالیو په ۱۰ پاڼیو کې د توپ اچونې د ۲۴.۱٦ اوسط او ۳.۹۵ منډو ایکانومي ریټ سره ۲۴ وېکټې ترلاسه کړې چې له امله یې د سیالیو غوره توپ اچوونکی ونومول شو. له بلې خوا د بند امیر زون توپوهونکي جان محمد په ٦ پاڼیو کې د ۷۹.۵۹ منډو په اوسط سره د دوه سلیزو او یوې نیمه سلیزې پرمټ ۳۹۸ منډې جوړې کړې او د سیالیو د ځوان لوبغاړي جایزه یې ترلاسه کړه.

سربېره پر دې د مس عینک زون ځوان لوبغاړي رفیع الله صادق د یادو سیالیو په ترڅ کې د ۵۴.۵۷ منډو په اوسط سره د یوې سلیزې او درې نیمه سلیزو پرمټ ۳۸۲ منډې جوړې کړې او هم یې د توپ اچونې له ۳۱.۵۴ اوسط او د ۳.۵۷ منډو په ایکانومي ریټ سره ۱۱ وېکټې ترلاسه کړې چې پرمټ یې د زونونو په کچه د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو ترټولو غوره لوبغاړی ونومول شو.

د مس عینک زون لوبډلې په دغو سیالیو کې خورا ښې لوبې وکړې او ترپایه له ماتې سره مخ نشوه. دغې لوبډلې د همدې بهترینو لوبو او کارکردګۍ له امله د دویم ځل لپاره د یادو سیالیو اتلولي خپله کړه. دا په ټوله کې د دې سیالیو دریم پړاو و چې لومړی هغه یې په ۲۰۱۹م کال کې د مس عینک زون او دویم پړاو سیالۍ یې تېر ۲۰۲۲م کال کې د بند امیر زون په اتلولۍ پای ته رسېدلې وې.

د یادونې وړ ده چې د زونونو په کچه د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ د روان کال په ترڅ کې د کورني کرکټ ځانګې اړوند پنځم ټورنمنټ و چې ورپسې به د راتلونکو څو میاشتو په ترڅ کې د ګڼ شمېر نورو سیالیو ترڅنګ د زونونو په کچه د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس او د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالۍ هم ترسره شي.

MIRWAIS NEKA REGIONAL 3-DAY TOURNAMENT 2023

د سیالیو غوره لوبغاړی
رفیع الله صادق - مس عینک زون
۳۸۲ منډې - ۱۱ وېکټې

MIRWAIS NEKA REGIONAL 3-DAY TOURNAMENT 2023

د سیالیو غوره توپوهونکی
برکت الله ابراهیمزی - مس عینک زون
۴۹۱ منډې

د سیالیو غوره توپ اچوونکی
خیر محمد - امو زون
۲۴ وېکټې

ICC Cricket World Cup Qualifiers 2023 Underway in Zimbabwe

The ICC Cricket World Cup Qualifier 2023 is currently underway in Zimbabwe, where ten teams will fight it out for the last two available spots at the 2023 ODI World Cup in India in October-November. The Qualifier is the finishing point of a four-year process that began with 32 teams in contention for the World Cup, where only ten will finally take part.

The hosts Zimbabwe are joined by Ireland, Nepal, Netherlands, Oman, Scotland, Sri Lanka, UAE, USA, and West Indies, which are divided into two groups of five teams.

Group A features West Indies, Zimbabwe, Netherlands, Nepal, and the USA, whereas Group B includes Ireland, Oman, Scotland, Sri Lanka, United Arab Emirates.

All matches will have ODI status. Each side will play four group matches, facing the others in their group once in a round-robin format. The winner of each game will be awarded two points, while ties and no results will fetch one point each.

After the 20 group-stage matches are done, the top three teams in each group then progress to the CWC Qualifier Super Six stage, while carrying over their results from the two matches against the other teams to advance from their initial group. The teams that progress to the Super Six stage will then play the three teams to advance from their opposite group to complete the pivotal match-ups.

The top two teams at the end of the Super Six stage will book their ticket to the ICC Men's Cricket World Cup 2023 in India later this year, while also facing off in a CWC Qualifier Final on July 9. The four teams that miss out on the Super Six stage will meet to decide the seventh to 10th places at the CWC Qualifier and help make it 34 ODI matches across the event.

The CWC Qualifier is the finale of four years of tense ODI competition that brings together the bottom five teams from the ICC Men's CWC Super League, three automatic qualifiers from the ICC Men's CWC League 2, and two teams that qualified from the ICC Men's CWC Qualifier Play-off.

The ODI Super League was introduced by the ICC in 2020 to help decide the teams that would feature in the World Cup. It ran from July 30, 2020, to May 14, 2023. The 13 teams included the 12 Full Members and the Netherlands, who were winners of the preceding World Cricket League Championship.

At the end of the Super League, India, New Zealand, England, Bangladesh, Pakistan, Australia, Afghanistan, and South Africa sealed their World Cup spots. The bottom five teams - West Indies, Sri Lanka, Ireland, Zimbabwe, and the Netherlands, along with five Associate nations - get another crack at making the main event through the Qualifier.

Oman, Scotland, UAE, Nepal, and the USA are the other five associate teams that feature in the CWC Qualifiers. Scotland, Oman, and Nepal were the top three teams in the World Cup League 2, a seven-team tournament of 140 matches that was played from August 2019 to March 2023. Scotland and Oman finished first and second, and Nepal sealed third place in an exhilarating manner by winning 11 of their last 12 matches to pip Namibia by a solitary point.

UAE and USA clinched the final two qualifying spots after finishing as the top two teams at the World Cup Qualifier play-offs in March-April this year.

The ICC confirmed that DRS will be in use from the Super Six stage for the first time in a World Cup Qualifier. Star Sports, will broadcast the TV games in the sub-continent, with Star Sports 1 televising the matches in India, Nepal, and Bangladesh. The games will also be live-streamed in India via Disney+Hotstar. In addition, the broadcasting rights of the event have been sold out to all countries around the world, where fans and cricket enthusiasts can enjoy mouth-watering cricketing encounters.

Cricket World Cup Qualifier Squads
Ireland: Andrew Balbirnie (c), Mark Adair, Curtis Campher, Gareth Delany, George Dockrell, Graham Hume, Josh Little, Andy McBrine, Barry McCarthy, PJ Moor, Paul Stirling, Harry Tector, Lorcan Tucker, Ben White, Craig Young.
Nepal: Rohit Paudel (c), Kushal Bhurtel, Aasif Sheikh, Gyanendra Malla, Kushal Malla, Aarif Sheikh, Dipendra Singh Airee, Gulsan Jha, Sompal Kami, Karan KC, Sandeep Lamichhane, Bhim Sharki, Lalit Rajbanshi, Pratish JC, Arjun Saud, Kishor Mahato
Netherlands: Scott Edwards (c), Max O'Dowd, Logan van Beek, Vikram Singh, Aryan Dutt, Viv Kingma, Bas de Leede, Noah Croes, Ryan Klein, Teja Nidamanuru, Wesley Barresi, Shariz Ahmad, Clayton Floyd, Michael Levitt, Saqib Zulfiqar.
Oman: Zeeshan Maqsood (c), Aqib Ilyas (vc), Jatinder Singh, Kashyap Prajapati, Shoaib Khan, Mohammed Nadeem, Sandeep Goud, Ayaan Khan, Suraj Kumar, Adeel Shafique, Naseem Khushi, Bilal Khan, Kaleemullah, Fayyaz Butt, Jay Odedra, Samay Shrivastav, Rafiullah
Scotland: Richie Berrington (c), Matthew Cross, Alasdair Evans, Chris Greaves, Jack Jarvis, Michael Leask, Tom Mackintosh, Chris McBride, Brandon McMullen, George Munsey, Adrian Neill, Safyaan Sharif, Chris Sole, Hamza Tahir, Mark Watt
Sri Lanka: Dasun Shanaka (c), Kusal Mendis (vc & wk), Dimuth Karunaratne, Pathum Nissanka, Charith Asalanka, Dhananjaya de Silva, Sadeera Samarawickrama (wk), Wanindu Hasaranga, Chamika Karunaratne, Dushmantha Chameera, Kasun Rajitha, Lahiru Kumara, Maheesh Theekshana, Matheesha Pathirana, Dushan Hemantha

UAE: Mohammad Waseem (c), Ethan D'Souza, Ali Naseer, Vriitya Aravind, Rameez Shahzad, Jawadullah, Asif Khan, Rohan Mustafa, Aayan Khan, Junaid Siddique, Zahoor Khan, Sanchit Sharma, Aryansh Sharma, Karthik Meiyappan, Basil Hameed

USA: Monank Patel (c), Aaron Jones (vc), Abhishek Paradkar, Ali Khan, Gajanand Singh, Jasdeep Singh, Kyle Philip,Nisarg Patel, Nostush Kenjige, Saiteja Mukkamalla, Saurabh Netravalkar, Shayan Jahangir, Steven Taylor, Sushant Modani, Usman Rafiq

West Indies: Shai Hope (c), Rovman Powell (vc), Shamarh Brooks, Yannic Cariah, Keacy Carty, Johnson Charles, Roston Chase, Jason Holder, Akeal Hosein, Alzarri Joseph, Brandon King, Kyle Mayers, Keemo Paul, Nicholas Pooran, Romario Shepherd

Zimbabwe: Ryan Burl, Tendai Chatara, Craig Ervine, Bradley Evans, Joylord Gumbie, Luke Jongwe, Innocent Kaia, Clive Madande, Wessly Madhevere, Tadiwanashe Marumani, Wellington Masakadza, Blessing Muzarabani, Richard Ngarava, Sikandar Raza, Sean Williams.

The Cricket World Cup Qualifier will be held across four venues in Zimbabwe, with two each in the biggest cities of Harare and Bulawayo:

- Harare Sports Club, Harare
- Takashinga Cricket Club, Harare
- Queens Sports Club, Bulawayo
- Bulawayo Athletic Club, Bulawayo

All 34 ODIs at the CWC Qualifier will start at 9:00 local time in Zimbabwe (11:30 AM in Afghanistan). The Cricket World Cup Qualifier Final will be held at Harare Sports Club on July 9.

Afghanistan Cricket Board
Kabul International Cricket Stadium
Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul, Afghanistan